# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۲٦۰ ګڼه / شنبه ۲۳ صفرالمظفر ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۸ سنبله ۱٤۰۲ هـ.ش / ۰۹ سپتمبر ۲۰۲۳ میلادي


## ډېر ژر به واخان دهلیز بیا پرانیستل شي

په چین کې د افغانستان سفارت پرخپله ټویټرپاڼه لیکلي چې په دغه هېواد کې د ا فغانستان سفیر سید محی الدین سادات د چین د بهرنیو چارو وزارت د سرحدونو او سمندرونو چارو له رییس وانګ ټینشیان سره په کتنه کې د واخان دهلیز د بیا پرانېستې، پر یادې لارې د نوري فایبر غځولو، د سرحدونو د مدیریت او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه خبرې کړې دي.په همدې حال کې بیا سادات د چین د قونسلي ریاست له مرستیال سره په چین کې د افغانان بندیانو، د افغان سوداګرو دحقوقي دعوو، افغان سوداګرو ته د ویزو د ورکړې په اسانتیا او ګڼو نورو مسائلو په تړاو خبرې کړې دي.چین او افغانستان په داسې حال کې واخان دهلیز د بیا پرانېستې اړه خبره کوي چې اسلامي امارت وايي اوس مهال یې افغانستان د سیمې په ترانزیټي مرکز بدل کړی دی.

**متقي:**

## اسلامي امارت د شریکو ګټو په پار رغنده تعامل مهم بولي



د اسلامي همکارۍ سازمان مرستیال او د افغانستان له پاره ځانګړي استازي طارق علي بخیت، د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست مولوي امیر خان متقي سره وکتل.د بهرنیو چارو وزارت ویاند عبدالقهار بلخي په خپله ایکس پاڼه لیکلي، چې په دغه کتنه کې په افغانستان کې د امنیت د ټینګښت، اقتصادي پیاوړتیا، له غیرقانوني وسله والو افرادو او نشه یي توکو سره مبارزې، ۷مخ

**د تولګټو چارو سرپرست وزیر :**

## ترکي شرکت دې د تولیداتو کیفیت لوړ کړي

د تولګټو وزارت سرپرست ملا محمدعیسی ثاني او د دغه وزارت یو شمېر ریسانو، په افغانستان کې د ترکي ۷۷ ساختماني شرکت څخه لیدنه کړې او د یاد شرکت له مسولینو سره یې لیدنه کړې. په افغانستان کې د ترکي ۷۷ ساختماني شرکت مرستیال براق انسال، د تولګټو وزارت سرپرست ته د بنه راغلاست ترڅنګ د یاد شرکت د تولیداتو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړي او ویلي یې دي؛ یاد شرکت په افغانستان کې د کانکریټي ګاډرو، کانکریټي پایې او د بیا رغونې اړوند نور کانکریټي توکي تولیدوي.د تولګټو وزارت سرپرست وزیر، په افغانستان کې د ترکیې ۷۷ ساختماني شرکت پر فعالیتونو خوښي څرګنده کړې او زیاته کړې یې ده، یاد شرکت د تولګټو وزارت سره تل همکار پاتې شوی.ملا محمدعیسی ثاني، یاد ساختماني شرکت ته له خپل لوري څخه د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړی او د شرکت مسولینو ته یې ویلي؛ په غوره کیفیت سره دې کانکریټي ګاډر او نور ساختماني توکي تولید کړي، ترڅو له دوی سره د دغه وزارت نورې پروژې په قانوني ډول قرارداد شي.

**مولوی عبدالسلام حنفی:**

## تاجران و سرمایه گذاران ارکان اصلی توسعه و پیشرفت یک جامعه اند




مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با حاجی خلیل ځدران یکتن از تاجران ملی کشور و همراهانش دیدار نمود.در این دیدار، نخست حاجی خلیل ځدران به نمایندگی از دیگران راجع به وضعیت اقتصادی، تجارت و سرمایه‌گذاری در کشور صحبت نموده، گفت که مهم‌ترین مسئله برای تاجران و سرمایه‌گذران در راستای سرمایه‌گذاری در کشور تأمین امنیت جانی و مالی آنان و نیز مورد حمایت قرار گرفتن و فراهم سازی سهولت‌ها از طرف امارت برای آن‌ها می باشد که خوشبختانه امارت اسلامی امنیت تاجران و سرمایه‌گذاران و همچنان سرمایه‌های آنها را به بهترین شکل تأمین کرده و نیز سهولت‌های زیادی را برای آنان در نظر گرفته که باعث می‌شود تاجران به سرمایه‌گذاری در کشور تشویق شوند.آنان همچنان به نقش ترانسپورت و انتقال اموال در امر تجارت اشاره کردند و از مسئولین امارت اسلامی تقاضا نمودند تا در زمینهٔ حمل و نقل اموال تجارتی و راه‌های مواصلاتی توجه ویژه نمایند.مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء ضمن خوش آمدید به آنان، تاجران و سرمایه‌گذاران را یکی از ارکان اصلی توسعه و پیشرفت یک جامعه برشمرد.معاون اداری ریاست الوزراء افزود ... ص۷

**مولوي مطیع الحق خالص:**

## ټولو هېوادوالو ته له توپیر پرته مرستې رسوو

په پنجشېر ولایت کې د افغاني سرې میاشتې د سرپرست عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص له لوري په ټولنه کې د افغاني سرې میاشتې ولایتي ټولنې د غړو پرانیست غونډه د ټولنې، ولسي وګړو او د افغاني سرې میاشتې ترمنځه د اړیکو د پیاوړتیا په موخه ترسره شوه.ناستې ته د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص ګډونوالو ته دوینا پر مهال د ښه راغلاست وروسته وویل: « موږ ټول یو ملت یو، د هېواد په هر ګوټ کې چې هر هېوادوال ته تکلیف او درد ورسېږي موږ هم ورسره د تکلیف او درد احساس... ۷مخ

## کندز کې د لرغوني جامع جومات بیارغونې چارې بشپړ شوې



د کندز د اطلاعاتو او کلتور ریاست مسوولین وايي، چې په دغه ولایت کې د تخارستان لرغوني جامع جومات تر بیا رغولو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د یاد ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس مطیع‌الله روحاني د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د تخارستان لرغوني جامع جومات د کندز د ښاروالۍ له لوري د ۴ میلیونه ۲۳۷ زره افغانیو په لګښت د ۵ میاشتو په موده کې بیا رغول شوی دی.د یادونې وړ ده چې د تخارستان جامع جومات په دغه ولایت کې یو له هغو تاریخي جوماتونو څخه دی چې شاوخوا ۱۰۰ کاله تاریخي مخینه لري او د اطلاعاتو او کلتور ریاست د ۱۹ تاریخي ځایونو څخه یو همدا جومات هم ثبت او راجستر دی.

**اداره ملی غذا:**

## برای خودکفایی افغانستان از تولیدات داخلی استفاده شود




مسوولان اداره ملی غذا و ادویه می‌گویند که برای خود کفایی اقتصادی کشور نیاز است تا از تولیدات داخلی حمایت شود و افغانستان مانند کشورهای دیگر به خودکفایی اقتصادی برسد. عبدالباری عمر، رییس اداره ملی غذا و ادویه، در مراسم معرفی ادویه تولیدشده توسط یکی از شرکت‌های داخلی گفته است که افغانستان نیاز دارد تا مانند کشورهای دیگر به آزادی اقتصادی برسد و این کار به حمایت از تولیدات داخلی نیاز دارد.از ... ص۷


له سکولاریسم څخه وېره؛ نقد او تأثر! ۲ مخ

د علمي کمزوریو او پرمختګونو اسباب ۳ مخ

زه وړی یم خواږه راکړه!!! ٤ مخ


### سرمقاله

## بېځایه الزامونه د پاکستان ستونزې نه شي اوارولی!

په دې وروستیو کې د نړیوال رسنیو له څارلو داسې معلومېږي چې پاکستاني چارواکي پرله پرسې ډول هم په کورد ننه اوهم ټولو نړیوالو مجالسو کې د افغانستان په اړه له حقیقته لرې اونامعقولې څرګندونې کوي، د مثال په ډول هغوی وايي چې افغانستان کې له امریکایانو پاتې شوني وسلې اوجنګي وسایل د ترهګرو لاسو ته لوېدلي اود پاکستان امنیت یې له خورا سختو ستونزو سره مخ کړی دی. یادا چې د تحریک طالبان غړي له ډیورنډ کرښې تیرېږي راتیرېږي او د افغانستان ډېرو سیمو کې پټنځایونه لري، کله وايي اسلامي امارت دې پرخپلو ژمنو عمل وکړي او کله وايي افغانستان کې پاتې نظامي تجهیزات ټولې سیمې ته خطر جوړولی اوامنیت یې ګواښ شي خوبل لورته د یادوبې بنسټه اوبې انصافه بیانونو پروړاندې د ټول افغان ملت اوله فرضي کرښې هاخوا د زیاترو عوامو اوخواصو نظردادی چې د پاکستاني چارواکو اصلي موخه ښايي داوي چې افغانستان باید په هیڅ زمانه کې یو با ثباته مستحکم ، مرکزي اوملي حاکمیت ونه لري . له دوی سره همیشه دا اندېښنه موجوده وي چې که افغانستان کې حکومت پیاوړی اوځواکمن شي، ښايي پاکستان ته زښته ډېرې ستونزې جوړې کړي، خوله بده مرغه دې ته یې پام نه دی چې خدای دې نه کړي که اوس د خارجي ځواکونو له وتلو وروسته دلته هماغه د شورویانو اود کابل ۷مخ

**اداره ملی حفاظت از محیط زیست:**

## تیم سیار مابه منظور پاک نگهداشتن محیط زیست همه روزه ازساحات مختلف شهر کابل دیدن میکند



در اثر تلاشهای پیگیراداره ملی حفاظت محیط اززیست در زمینه پاک نگهداشتن آب و هوای شهر کابل وچند شهر بزرگ افغانستان تغییرات مثبت ایجاد گردیده است.حمام ها و نانوایی ها به جای سوخت مواد دود زا و فوسیلی از گاز مایع استفاده میکنند.موترهای کهنه که هنگام حرکت دودهای غیر عادی از آنها تولید میشودکنترول و اسناد شان تا ترمیم نزد ترافیک نگهداری میشوند و همینگونه آنعده موترهاکه انجن هایشان عارضه بیشتر دارند جهت عوض کردن انجن به گمرکها معرفی شده و در صورت تکمیل این پروسه و بررسی مجدد اجازه فعالیت رابدست میاورند.طوری که زمستان رو به ... ص۳

## دشمنی ۵۲ ساله دو خانواده در ولسوالی پغمان به دوستی تبدیل شد

دشمنی ۵۲ ساله دو خانواده که بر اثر آن دو تن از دو طرف کشته شده بود، با تلاش مقامات محلی و متنفذین ولسوالی پغمان به دوستی تبدیل شده است. شیخ محمد قاسم خالد والی کابل در نشستی که برای حل دو قتل در ولسوالی پغمان برگزار شده بود اشتراک و صحبت کرد.شیخ محمد قاسم خالد والی کابل در این دیدار گفت؛ صلح و دوستی دو خانواده نیز جزء عبادت است ... ص۷

## سور صلیب له افغانانو سره په بېلا بېلو برخو کې مرستو ته دوام ورکوي




د ریاست الوزرا د دفتر لوی رییس ډاکټر ملا عبدالوسع په افغانستان کې د سره صلیب نړیوالې کمیټې د استازولۍ له مشر ایلوا فیلیون او مل پلاوي سره لیدنه کړې.ښاغلي ایلوا فیلیون په افغانستان کې د خپلو مرستندویه فعالیتونو او ... ۷مخ

# له سکولاریسم څخه وېره؛ نقد او تأثر!

وحیدالله‌مصلح

محـق صیـب پـه دې وروسـتیو کـې د "هـراس بی‌جـا از سکولاریسم در افغانسـتان" تـر عنـوان لانـدې د سکولاریسـم پـه ننګـه لیکنـه کـړې ده، هغـه سکولاریسـم توجیـه کـړی او داسـې تأثـر یـې ورکـړی چـې ګنـې سکولاریسـم د افغانسـتان ناجـي دی.

واقعیـت دا دی چـې پـه شـرقي هېوادونـو کـې سکولاریسـتان د خشـونت، اسـتبداد، اسـلام سـتېزۍ او ایتیېسـم/بې خدایـۍ قضیـه ده. د شـرق سکولاریسـتان دومـره پـه افراطیت اختـه وو او دي چـې حتـی همدغـه د دیـن او دولـت د حـوزو پـه وېـش کـې اسـلام پـه خپـل مسـجد کـې پـه ارامـه نـه پرېـږدي، دوی حتـی هغـه دینـي جریانونـه هـم تخریبـول چـې لـه سیاسـت نـه یـې پنا غوښـته، دوی د تبلیغیانـو پـه څېـر محـض عبادتـي جریـان هـم ګواښـلو او دا پـه تېـر کـې لـه اسـلامي تمدنـي جریانونـو سـره د سکولاریسـتی افراطیونـو د ورځنـي کشـمکش برخـه وه.

کلـه چـې د محـق پـه څېـر یـو کـس چـې پـه اسـلامي جریانونو کـې د پاتېـدو تجربـه لـري، لـه دینونـو سـره د سکولاریسـم د برخـورد پـه اړه ګُلـي خبـرې کـوي نـو د افغانـي سکولاریسـم د فلسـفي اسـتادانو پـر پوهـې لویـې پوښـتنې واردېـږي. پـه قصـدي تومتونـو، انکارونـو او ذهنیـت کړولـو کـې ژونـد او د پوهـې او درایـت پـه پـوښ کـې پټېـدل د شـرقي سکولاریسـتانو خاصـه ده.

سکولاریسم؛ د دین او دولتدارۍ توازن!

محـق پـه دې نـه پوهېـږي چـې اسـلام اجتماعـي پیغـام دی؟ هغـه پـه دې نـه پوهېـږي چـې اسـلام پـه قومـي جغرافیـو کـې ایسـار نـه دی او پـه نړیوالـه داعیـه کـې د قومونـو او جغرافیـو پـر ځـای انسـانان مخاطبـوي؟ اسـلام حتـی عبادتـي مسـایل لمونـځ، روژه، زکات او حـج فـردي بوختیـاو تـه نـه دي پرېښـي او دې هـر رکـن لپـاره اجتماعـي اډانـه او سېسـتم معرفـي شـوی دی، د لمانځـه لپـاره کوچنـي او لـوی جوماتونـه او پنځـه وختـه جماعـت، روژې لپـاره پـه یـوه وخـت د مسـلمانانو روژه کېـدل او بـوزه کېـدل، د تراوېحـو اجتماعـي عمـل، د روژې پـر تسلسـل د اخترونـو اجتماعیـت، د زکات لپـاره عامـلان او دولتـي بیت المـال، او د حـج اجتماعـي قضیـه چـې د نـړۍ مسـلمانان پـه کـې د متحـد امـت انځـور وړانـدې کـوي، دا ټـول د اسـلام اجتماعیـت ټاکـي او دا ټاکـي چـې اسـلام پـه مسـجد کـې را ایسـار نـه دی او اسـلام د فـرد شـخصي عمـل نـه دی، اسـلام د اجتمـاع لارښـود دی او د کـوم وګـړي پـر ځـای خلکـو تـه پیغـام لـري.

څـوک چـې اسـلام تـه د عیسـویت پـه سـترګه ګـوري او ګڼـي چـې سکولاریسـم د اسـلام همغسـې بدیـل دی لکه د عیسـویت چـې دی؛ دوی د اسـلام پـر ماهیـت نـه پوهېـږي، دوی د اسـلام او عیسـویت پـه مقارنـه کـې خطـا وتـې دي. دغـه خطـا وتلـي او یـا معاندیـن بایـد پـوه شـي چـې د اسـلام لارښـووني د سکولاریسـم لـه ظـرف نـه ډېـرې لـوړې او پراخـې دي، اسـلام د واک خبـره لـري، اسـلام د مدنیـت بحـث او عمـل لـري او یثـرب پـر مدینـه اړولـو خبـره لـري، اسـلام د غـزا او زمکنـۍ پراختیـا اجنـډا لـري، اسـلام لـه هـر وخـت سـره د تعامـل وړتیـا لـري او اسـلام د خپلـو ټولـو عباداتـو، معاملاتـو، اخلاقیاتـو او اعتقاداتـو د سـاتنې لپـاره د نظـام خبـره لـري.

اسلامي نظام او د سکولاریستانو شخړه!

اوس چـې د اسـلام ماهیـت د ژونـد د نظـام دی او پـه دې کـې یو افراطـي سکولاریسـت راپورتـه شـي اسـلام د فـرد او خـدای تـر منـځ اړیکـې کـې محصـور کـړي، دا نـو نـه یـوازې لـه اسـلام بلکـې د خپلـې ټولنـې لـه جوړښـت او طبیعـت سـره شـخړه ده، دا شـخړه چپـې جریانونـو پـه خپلـو لسـګونو کودتاګانـو سـره پیـل کـړه او دا دی نیمـه پېـړۍ یـې پـوره کېدونکـې ده خـو لـه دې خونـړۍ تجربـې د نـوي سکولاریسـم فلسـفي نظریـه جوړوونکـي ګټنـه نـه کـوي، دوی لـه یـوې شـخړې بلـې تـه ننوځـي او پـه ډېـر افراطیـت او انقلابـي تفکـر ننوځـي، دا افراطیـت زمـوږ ټولنـه ارام تـه نـه پرېـږدي، ثبـات او پرمختـګ لـه منځـه وړي او ټولنـه هـر ځـل پـه یـوې وړې سـولې پسـې بلـې اوږدې جګـړې تـه ننوځـي.

یـوازې فزیکـي شـخړه نـه بلکـې پـه فلسـفي او منطقـي لحـاظ دا شـووني نـه ده چـې اسـلام لـه خپلـو ځانګړتیـاو سـره د سکولاریسـم پـه تصنیـف او اډانـه کـې وغورځـول شـي، مخکـې مـو مقدمـه کېښـوده چـې د اسـلام ماهیـت دغسـې نـه دی کـوم یـې چـې سکولاریسـتان وایـي، نـو چـې اسـلام وایـي زه دغسـې یـم او محـق صاحـب وایـي چـې نـه تـه هغسـې نـه یـې، زه او کریـم سـروش چـې څـه وایـو تـه هغسـې یـې، نـو د شـخړې تهـداب سکولاریسـتان پـه همـدې ناسـمې او اسـتبدادي دعـوې او چلنـد سـر پیلـوي.

سکولاریسم او د استبداد واکمنۍ!

سکولاریسـتان د سکولاریسـم پـه نظریـه او تطبیـق کـې یـوه خولـه نـه دي، دوی چـې پـه ترکیـه، الجزایـر، تونـس، مصـر او نـورو شـرقي هېوادونـو کـې سکولاریسـم پـه کـوم افـراط او اسـتبداد عملـي کـړ نـو هلتـه یـې حتـی د وګـړو پـه فـردي انتخابونـو کـې مداخلـې وکـړې، مثـلاً حجـاب د مېرمنـو شـخصي او فـردي عمـل پـه توګـه دوی و نـه شـوای زغملـی، پـه مسـجدونو کـې د ځوانانـو عبـادت، اذان، او پـه عربـي ژبـه اذان دا ټـول د ممنوعیـت ښـکار وو، پـه ترکیـه کـې صدراعظـم عدنـان مندریـس د اتاترکـي سکولاریسـتانو لـه خـوا پـه بلـه ګنـاه نـه وو اعـدام شـوی، هغـه اذان بېرتـه اعـاده کـړی و او مسـجدونه یـې پرانیسـتی وو، یـوازې همدومـره... دا هـر څـه پـه عربـي هېوادونو کـې هـم وشـول او لا هـم جریـان لـري. زمـوږ پـه ګاونـډ تاجکسـتان کـې پـر عربـي نومونـو پابنـدي ده، پـر ږیـرو پابنـدي ده، پـر حجـاب پابنـدي ده او ډېـرې نـورې پابنـدۍ چـې فـردي ازادۍ زنـدۍ کـوي، پـه اجتماعـي لحـاظ دغـه سکولاریسـتي حکومتونـه اصـلاً هیـڅ واقعـي اپوزېسـیون نـه لـري، یـوازې همـدوی دي او تلپاتـې واکمنـۍ دي!

پـه شـرقي هېوادونـو کـې د سکولاریسـم بنیـاد پـر قهریـه برخوردونـو اېښـودل شـوی دی، کودتاګانـې شـوي دي او بیـا دولتونـه د څـو سکولاریسـتو جنرالانـو پـه لاسـونو د لسـیزو لسـیزو لپـاره ولکـه شـوي دي، څـو عمـده مثالونـه؛ مصـر د جمـال عبدالناصـر لـه کودتـا تـر دې دمـه د سکولاریسـم پـه خشـم کـې بنـد دی، یوازینـۍ ازادې ټاکنـې د ۲۰۱۲ کال وې چې ولـس پـه کـې محمـد مرسـي وټاکلـو، همـدې سکولاریسـم هغـه تـه پـه داسـې حـال کـې د واک دورې بشـپړولو حـق ورنـه کـړ چـې تـر ده مخکـې او وروسـته سکولاریسـتو جنرالانـو پـه کـې پـه لسـیزو پـر واک منګولـې ښـخې کـړې دي. پـه همـدې مصـر کـې چـې سکولاریسـتانو څومـره تنـوع او پلورالېسـم وژلـې د مصـر تاریـخ یـې یـوازې د فراعنـه و او بنـي اسـرائیلو پـه شـخړو کـې لـري. دوی چـې یـوازې پـه رابعـه عدویـه کـې پـه سـلګونو مصریـان فقـط د تنـوع پـه بنیـاد ووژل هغـه د مصـري سکولاریسـتي اسـتبداد، خشـونت او نـه زغـم د ثبـوت لپـاره کفایـت کـوي.

همدغسـې تونـس درواخلـئ، پـه تونـس کـې د النهضـة حرکـت مشـر اسـتاد راشـد غنوشـي لـه سکولاریسـتانو سـره د مـدارا پـه دایـره کـې بېخـي خپلـې کرښـې ماتـې کـړې او حتـی د اسـلامپالو پـه منـځ کـې پـرې د ثوابتـو د اهمـال بحثونـه رامنځتـه شـول خـو همدغـه د تفریـط پـه تعامـل کـې بوخـت اسـتاد دوی ونـه زغملـو، هلتـه سکولاریسـتانو د خلکـو پارلمـان او حکومـت رنـګ کـړ، منتخـب وکیـلان بندیـان شـول او اسـتاد غنوشـي لـه خپلـې ټولـې مـدارا، زغـم او پلورالېسـتي روحیـې سـره پـه زنـدان کـې پـروت دی.

د لیبیـا، سـوریې، عـراق، یمـن او زمـوږ د شـمالي ګاونډیانـو دولتونـه چـې سکولاریسـتي بنیـه لـري دا ټـول لـه لسـیزو را پـه دې خـوا د یـوې یـوې کورنـۍ لـه خـوا اداره کېـږي، دوی خپـل مخالفیـن پـه بدترینـو شـکنجو تعذیبـوي او ټکـوي یـې، اوس نـو چـې محـق صیـب راپورتـه شـي او ووایـي چـې (بنسـټپاله ډلـې پـر سـکولاریزم ځکـه پـه غوسـه دي چـې ولـې دوی تـه اجـازه نـه ورکـوي تـر څـو لـه قهریـه قـوې پـه اسـتفادې سـره خپلـې سـیالي ډلـې سـرکوب کـړي او غږونـه یـې خامـوش کـړي) دا ادعـا نـه یـوازې د شـرقي سکولاریسـتانو او تنـوع پـر شـخړې او تاریـخ ملنـډې دي بلکـه دا ادعـا یـې بېخـي سـرچپه ده او لـږ مخکـې مـو د همـدې مدعـا لپـاره مثالونـه وړانـدې کـړل.

سکولاریستي استبداد؛ د خلکو تبعید او فرار!

محـق صاحـب د اخـوان المسـلمین مشـرانو تـه پیغـور ورکـوي چـې ولـې پـه ترکیـه، لنـدن، جرمنـي، فرانسـه، اسـکاندیناویا، اسـترالیا، کانـاډا او امریـکا کـې اوسـېږي، دې سـرچپه منطـق تـه سـړی حیـران شـي، دا ښـاغلی د دې پـر ځـای چـې د عربـي هېوادونـو سکولاریسـتی مسـتبدو حکومتونـو تـه ګوتـه ونیسـي چـې هغـوی پـر خپلـو خلکـو صحنـه دومـره تنګـه کـړې چـې تـرې تښـتي او نـورو هېوادونـو تـه پنـاه وړ؛ پـر ځـای یـې نومـوړی یـوه لویـه اسـتبدادي قضیـه اګنـور کـوي او بـس دی مظلومـو وګـړو تـه وایـي چـې ولـې تللـي یئ او یـا دا چـې ولـې د دې هېوادونـو پـر ځـای نـورو وطنونـو تـه نـه تللـئ.

پـه منطقـي لحـاظ د همـدې محق صیـب د سکولاریسـتي دعوې لـه مخـې هېوادونـو تـه تـګ او مېشـتېدنه د وګـړو شـخصي حـق او انتخـاب دی، خـو هغـه پـه خپلـه خبـره کـې تناقـض کـوي او د خلکـو پـر شـخصي انتخابونـو بلوسـي او محدودیتونـه ټاکـي، همـدا د ټولـو سکولاریسـتانو خاصـه ده.

پـه همـدې اسـتبدادي خاصـه کـې د مصـر او نـورو عربـي هېوادونـو زندانونـه پـر اخوانـي مشـرتابه او اعضـاو ډک دي، پـر اکثـرو یـې د اعـدام پرېکـړې شـوي دي، تاریـخ بـه پـه خپـل ټټـر د اخـوان سـولیزه مبـارزه او د سکولاریسـتانو خونـي برخوردونـه یـاد سـاتي او تاریـخ بـه دا هـم یـاد سـاتي چـې د مصـر اخوانیانـو د خپـل هېـواد او ملـت پـه خاطـر د مسـتبد، جابـر او سکولاریسـت حکومـت پـر ضـد پـه وروسـتي حـد کـې هـم ټوپـک او خشـونت تـه مخـه نـه کـړه، دا نـن چـې پـه جنـک ککـړې عربـي جغرافیـه کـې مصـر فزیکـي جګـړه نـه لـري دا د اخـوان سـولییزه ژمنـه ده، کـه نـه مصـر کـې بـه د طرابلـس او بـن غـازي پـه څېـر دوه جنګـي قطبونـو کـې لمبـې کـولای. دا هـر څـه بـه تاریـخ راسـته لیکـي خـو محـق صیـب یـې سـرچپه لیکـي.

پـه شـرقي هېوادونـو کـې سکولاریسـتي حکومتونـو د خلکـو او سیاسـي ډلـو تـر منـځ مـدارا، شـراکتونه، زغـم او ګـډ ژونـد لـه منځـه وړی دی، پرتـه لـه دوی نـور هیڅـوک د واک او ښـه ژونـد چانسـونه نـه لـري، دوی د سکولاریسـم پـه نـوم د خلکـو پـه اعتقادونـو، دینـدارۍ، سیاسـي نظریـو او اجتماعـي لیدونـو ناسـت دي، دوی د خلکـو پـه ګـردو ناسـت دي او هغـوی یـې د جبـري توافـق، فـرار او اعـدام تـر منـځ د یـوه پـر انتخـاب محکـوم کـړي دي.

حل لاره څه ده؟

وسـطي خبـره دا ده چـې د اسـلامي ټولنـو د پرمختـګ لپـاره اړتیـا ده چـې اسـتبداد پـه ټولـو بڼـو محکـوم او حـذف شـي، تـر هغـه چـې اسـتبداد وي نـو پرمختـګ د مرغـۍ پـۍ دي. د اسـلامي ټولنـو واقعیـت دا دی چـې دلتـه اسـتبداد د سکولاریسـم پـه بڼـه کـې محکـم دی، کـه اسـتبداد تـرې لـرې شـي نـو د سکولاریسـم دغـه اسـتحکام نړېـږي لـه همـدې املـه خـو غـرب دلتـه جنـرالان او د اسـتبداد شـاهي سـلطنتونه چـې پـه حکومتولـۍ کـې سکولاریسـتان دي تـل حمایـه او کرایـه کـړې دي.

اسـتبداد کـه سکولاریسـتي وي کـه دینـي دواړه د منلـو وړ نـه دي، پـه اسـلام کـې د اجتماعـي او سیاسـي چـارو چلنـد مشـورتي دی، د حضـرت محمـد صلـی اللـه علیـه وسـلم تـر وفـات وروسـته دا ممکـن وه چـې یـو څـو صحابـه کـرام یـو تـن معرفـي کـړي او لـه خلکـو ورتـه هیـڅ بیعـت وانخلـي، خـو دا چـې بیعـت واخېسـتل شـو دا پـه دې معنـی چـې د خلکـو خوښـه او رضـا حاصلـه شـوه، راشـده خ-لفـاو پـه بیعـت کـې هیڅکلـه جبـر نـه دی کارولـی، داسـې پېښـې هـم وې چـې یـو صحابـي پـه میاشـتو میاشـتو بیعـت نـه دی کـړی.

کـه چـا هـم د راشـده خ-لفـاو ماډلونه/بېلګـې مطالعـه کـړې وي نـو پـه هغـوی کـې د حضـرت عثمـان رضـی اللـه تعالـی عنـه بېلګـه بېخـي ښـکاره ده، هلتـه عبدالرحمـن بـن عـوف رضـی اللـه تعالـی عنـه د حضـرت عثمـان او حضـرت علـي رضـي اللـه تعالـی عنهمـا لپـاره د مدینـې لـه ټولـو اوسـېدونکو نارینـه، ښـځینه، کوچنیانـو او زړو څخـه رایـه وغوښـتله، د خلکـو کورونـو تـه ولاړ او حتـی پـه کـاروان سـرایونو کـې یـې له مسـافرو مسـلمانانو څخـه پوښـتنې وکـړې چـې پـه دې دوه صحابـه کرامو کـې څـوک د خ-لیفـه پـه توګـه غـواړي، پـه پـای کـې ډېـره مسـلمانانو حضـرت عثمـان رضـي اللـه تعالـی عنـه د خ-لیفـه پـه توګـه خـوښ کـړ او پـه دې ډول هغـه د مسـلمانانو دریـم راشـده خ-لیفـه وټـاکل شـو. کـه راشـده خ-لافـت تـر څلـورو دورو نـور هـم غځېدلـی وای او تـر ننـه غځېدلـی وای ښـایي د څلـورو نمونـو پـر ځـای مـو بـې شـمېره نمونـې درلـودای.

د نننـۍ اسـلامي نـړۍ لپـاره د حضـرت عثمـان رضـي اللـه تعالـی عنـه د ټاکلـو چلنـد یـو ډېـر غـوره چلنـد دی، پـه دې چلنـد کـې ولسـي شـراکت خونـدي کېـږي او نـه یـوازې حکومتولـۍ پـه کـې ولسـي ریښـه اخلـي بلکـه پـه اسـلامي هېوادونـو کـې معاصـر اسـتبدادي احتمالونـه هـم پـه کـې کمېـږي.

پـه اسـلام کـې د دینـي رجالـو د حکومـت پـر ځـای د اسـلامي نظـام تصـور مطـرح دی، پـه دغسـې نظـام کـې د تخصـص او وړتیـا پـر بنسـټ واکونـه سـپارل کېـږي، عدالـت تامینېـږي، د خلکـو د بیـان او رایـې ازادي پـه کـې خونـدي کېـږي، لنـډه دا چـې اسـلامي نظـام د ارزښـتونو مجموعـه ده، دغـه ارزښـتونه کـه پـه هـره بېلګـه کـې تبلـور وکـړي نـو د اسـلامي نظـام ترجمانـي کـوي.

# د هوا ککړتیا د مخنیوي لپاره د ستراتیژیک پلان اړتیا!

احمدراشد

د روان کال د وږي ۱۶مه، د پاکې هوا نړیواله ورځ وه، خو افغانان د دې ورځې له را رسېدو سره سم ککړې هوا اندېښمن کړي او وایي، د هرې ورځې په تېرېدو ســره د دې ښار هوا لا ډېره ککړېږي، چې له امله یې بېلا بېلې ناروغۍ او د سالنډۍ ستونزې هم زیاتې شوې دي. کابل کې ډاکتران هم د دې ســتونزې پخلی کوي چې په دې ورځو کې موسمي ناروغۍ ډېرې شوې او تر څنګ یې د پلازمېنې د هوا ککړتیا کچې لوړوالی د اندېښنې وړ بللی او زیاته کړې یې ده که د هوا ککړتیا همداســې دوام پیدا کړي مرګوني پایلې به ولري.

رښــتیا هم په دې وروستیو کې د کابل هوا داسې ککړه شوې، چې ساه اخیستل په کې ګران کار دی، که څه هم په وروستیو څو کلونو کې د ورښــت د لږوالي او په هېواد کې د څلور لسیزو جګړو چې ډېــری ځنګلونه او ونې په کې له منځه تللي دي، د هوا ککړتیا کې ځانګړې ونډه لرلې ده، خو د کابل او ټول هېواد د اوســېدونکو بې باکي هم د هوا په ککړتیا کې پوره برخه لري چې د بې کیفیته سون توکو بې دریغه اســتعمال او د خامه سړکونو شتون دا ګواښ نور هم زیات کړی دی. په دې کې شــک نه شته چې هوا او اوبه د الله جل جلاله لوی نعمتونه دي چې پر موږ یې پېرزو کړي، خو د دې دواړو ســاتنه او راتلونکو نسلونو ته د یو ســتر او پاک چاپېریال په میراث پرېښــودل زموږ د ټولو دنده ده، خو په خواشــینۍ سره باید ووایم چې د څلور لســیزو جګړو او نورو عواملو زموږ ملي او اســلامي احساسات داســې ځپلي، چې اوس اکثره افغانان یوازې د ځان او د خپل کور تر دروازې فکر کوي او هاخوا د کلي، ښــار، ولایت او هېواد په اړه هېڅ د مســوولیت احساس نه کوي چې دې فکر زموږ د هېواد ســتونزې څو برابره زیاتې کړې دي. دغه راز د مســلکي کدرونو نشــتوالی او د عامه پوهاوي کمښــت زموږ د چاپېریال د خرابېدو سبب شــوي. اوبه، هوا او خاوره د چاپېریال درې مهمې ســتنې ګڼل کېږي چې د دغو د هر یوه ککړتیا د انســانانو پر ژوند خورا منفي اغېزه لري. چې اوس مهال د افغانســتان خلک په دې ټولو برخو کې له بې شمېره ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. همدا اوس په کابل کې د خلکو ګڼه ګونه زیاته شــوې، چې دغه د نفوس ډېروالی د دې باعث ګرځېدلی چې د کابل غرونه، غونډۍ او شنې ساحې په مســکونه سیمو تبدیلې شي. همدا لامل دی، چې کابل کې ۸۰ ســلنه ناروغان د کابل روغتونونو کې د همدې ککړې هوا د تنفس کولو او ککړو اوبو د څښلو له امله بستر او ځینې یې خپل ژوند له لاسه ورکوي. داچې په کابل کې نفوس زیات شوی، له غیر معیاري تېلو کار اخیستل کېږي، په پخلي کې له ډبرو سکرو، لرګیو پلاستیکي کڅوړو، د موټرو له تیرو او ډیزلو خلک ګټه پورته کوي، د ځنګلونو او د ونو نه موجودیــت، د وګړو ناغېرې او ډېر دوړن او خامه سړکونه او کوڅې او د زړو موټرو کارېدنه د دې باعث شوې، چې هوا ککړه او د وطنوالو روغتیا زیانمنه کوي، نو په کار ده، چې حکومت د دغې ستونزې د مخنیوي لپاره لاس په کار شي او د هوا ککړتیا د مخنیوي لپاره یو ســم ستراتیژیک پلان جوړ او پر ټولو یو شــان پلی کړي او له دې لارې د ککړتیا ټــول اصلي لاملونه ختم کړل شــي، د ســکرو او ټیټ کیفیت تېلو پر ځای پاکه «رینیوبل» انرژي، یانې لمریزه او بادي انرژي وکارېږي. په هره سیمه کې باید د کثافاتو او بې‌کاره شــیانو لپاره د ســوځولو په موخه ځایونه جوړ شي، په دې کار سره به په عامه ځایونو کې د سون مخه ونیول شي او له بلې خوا دا امکان هم شــته چې په ډېرې اسانۍ له دې لارې برېښنا تولید کړای شي. حکومتي مسئولینو ته په کار ده چې له ټولو لومړۍ دې ښاري ټرانســپورټ معیاري کړي او د ښار شنو ساحو ته پاملرنه وکړي، یعنې کابل ښــار کې شــنې ساحې پراخه کړي. دغــه راز دې د نفوس په تراکم کېدو فکر وشــي او په ټوله کې دې یوه هر اړخیزه ســتراتېژي جوړه او د تطبیق په موخه یې دې ګړندۍ هڅې پیل شي، دغه راز عامو وګړیو ته په کار ده له هغو کارونو ډډه وکړي چې په چاپېریال ته زیان رســوي. مثلاً په نویو ودانیو کې د خراب کیفیت تشنابونه، عامه ځایونو کې د پلاسټیکونو، ټایرونو او نورو چټلیو ســوځول، په کورونو، هوټلونو او نانوایانو کې د لرګیو یا د ډبرو ســکارو سوځول او زاړه موټرونه کارول، ټول هغه څه دي چې نه کارول یې کولای شــي تر ډېره بریده موجودي ســتونزې را کمې کړي.

# دعلمي کمزوريو او پرمختګونو اسباب

**حسان مجاهد**

څرنګه چې انسان په ژوند کې طبعي امورو ته اړتيا لري، تر څو د دنيا فاني ژوند په سمه توګه پرمخ يوسي؛ دا شان تر دې زياته اړتيا علم ته هم لري، تر څو د آخرت اجلي ژوند يې په راحت کې تېره شي؛ ځکه انسان د عبادت لپاره پيدا دی، د کاميابۍ راز يې هم په عبادت کې نغښتی دی او له علم پرته عبادت کول د کاميابۍ ذريعه نه شي جوړېدای.

پخوا زمانه کې علمي پرمختګونه خورا زيات وو، هر څوک تر خپله وسه ديني زدکونکی و، کله چې به يو عالم کوم ښار ته دننه شو؛ نو د ښار دکاندارانو به هم د زدکړې لپاره دکانونه وتړل، د يو عالم په ناسته کې به زرګونه کسان له قلم او کاغذ سره حاضر شو، علمي مينه تر دې کچې عامه وه چې د يوې مسئلې او حديث لپاره به زرګونه کيلو متره سفرونه کېدل، د ديني او دنيوي کارونو لپاره معلومې ورځې ټاکل شوې وې؛ همدا لامل و چې ټوله نړۍ په علم وځليده، ځلويښت کلنو علماوو لوی لوی تصنيفونه وکړل او ددوی له علمي پرمختګونو مسلمانانو څه، چې کفارو هم ګټه ترلاسه کړه.

البته مونږ په داسې زمانه کې ژوند کوو چې ديني معلومات مو د نشت برابر دي، تفصيلي علم څه چې د ايمان په اجمالي او ضروري امورو نا خبره يو، حاجيان له حج څخه راستون شي، خلک يې د تبرک لپاره ټنډې ښکلوي، شپېته کاله يې لمونځونه، صدقې او جهادونه کړي وي؛ خو د علمي کمزورۍ له امله يې يو عبادت هم نه وي قبول شوی ټولنه مو له علمي قحطۍ سره تردې کچې مخ ده چې تجارتي کاروبارونه، معاملې، انفرادي او اجتماعي ژوند په غير اسلامي بڼه روان دی، مسلمان به له خپلې ميرمنې سره په داسې حال کې کلونه کلونه تېر کړي وي چې ميرمن ور څخه پخوا لا پردۍ شوې وي.

رسول صلی الله عليه وسلم فرمايي: داسې وخت به راشي چې علم به پورته شي، ناپوهي به زياته شي، زنا او شراب خوري به زياته شي، نارينه به کم شي او ښځې به زياتې شي(رواه البخاري)

نن مونږ په همدغه زمانه کې راګير يو. علماء ليکي چې د دنيوي او اخروي نظام سمون تر پنځو شيانو تړلی دی: ۱_ د دين اصلاح ۲_ د عقل اصلاح ۳_ د نسب او نسل اصلاح ٤_ د نفس اصلاح ٥_ د مال اصلاح. دځمکې له مخه د علم په ورکيدو سره په دين کې فساد، په شراب څښلو د عقل فساد، په زنا او فحشا سره په نسلونو کې ګډوډي او فساد او د نارينه وو په کمښت او د ښځو په ډېروالي سره په نفس او مال کې فساد رامنځته کيږي او دا ټول فسادونه د علم په ورکيدو سره رامنځته کيږي. نو په دې اساس ويلای شو چې

نن موږ علمي پرمختګ ته سخته اړتيا لرو. هره وړاندينۍ زمانه خير وي او هره وروستنۍ زمانه له شر او جهل څخه ډکه وي، با استعداده علماء له نړۍ څخه ځي او په بدل کې يې داسي کسان را پورته کيږي چې له خپلې ګمراهۍ سره د نورو د ګمراکولو لپاره هم لاره هواروي. ورځ تر بلې په دين باندي ناخبري زياتيږي او مسلمانان د کافرو او باطلو ډلو ښکار ګرځي.

له تمهيدي ټکو وروسته راځم دې ته چې په نن زمانه کې د علمي کمزوريو او پرمختګ أسباب څه دي؟

دعملي کمزوريو أسباب:

۱_ د علماوو او عامو خلکو تر منځ واټن رامنځته کېدل.

۲_ د ديني مسايلو په پوښتلو کې شرم کول.

۳_ د کتابونو له مطالعې څخه د ګوګل، مجلو او (pdf) کتابونو په مطالعه بسنه کول.

٤_ ټيټ همت او غفلت.

٥_ د ټولنې، مور او پلار لخوا ځوان نسل علمي پرمختګ ته نه هڅول.

٦_ د علمي اسنادو په ترلاسه کولو سره علم ته شا کول.

۷_ په مدارسو کې يوازي د زدکوونکو په زدکړه اکتفا کول او د يوې داسي غوره امتيازي تګلارې نشتوالی چې زدکونکی پرمختګ وکړي.

۸_ په نصابونو کې بې ګټې او د وخت له تقاضاوو لري کتابونه درجول.

۹_ په تعليمي درجو کې ترتيب نه مراعاتول؛ لکه په ابتدايي زدکوونکو باندې د لوړو درجو کتابونه ويل او په انتهايي زدکوونکو د ماشومانو کتابونو ويل.

۱۰_ له زدکړو سره ډېر مصروفيتونه او چارې پرمخ وړل، په ځانګړي توګه د روزي پيداکولو لوی فکر کول.

۱۱_ له ديني تعليم څخه د عامو خلکو غفلت او په دنيوي چارو کې تر حد زيات ډوبيدل؛ چې دا عمل د زدکونکي په ذهن هم تاثير کوي.

۱۲_ په تعليم کې للهيت او اخلاص پريښودل او تعليم ددنيا لپاره کول.

۱۳_ د حکومتونو او رسمي ادارو لخوا زدکوونکو ته دومره پاملرنه نه کول؛ څومره پاملرنه چې فلمي ډايرکټرانو، لوبغاړو او سندرغاړو ته کيږي.

١٤_ د زدکوونکو بې وزلي او امکاناتو ته نه لاسرسی.

١٥_ زدکوونکو ته پراخه آزادي او اختيارات ورکول.

١٦_ د علم په فضائلو او مناقبو باندي نا خبري.

١٧_ له استاد، کتاب او مدرسې سره بې ادبي کول.

١٨_ تر علمي زدکړي زيات وخت د انټرنيټ په کارولو تېرول او په انټرنيټ کې فاحش تصويرونه، فلمونه، سريالونه او ډرامې کتل .

کله چې مو د علمي کمزوريو أسباب په ګوته کړو؛ اوس لازمه ده چې د علمي پرمختګ أسباب هم وپيژنو او په تعليمي ډګر کې يې په کار واچوو؛ تر څو زدکوونکي له همهاله کمزوري حالت څخه بهر شي او د علمي ارتقا څخه برخمن شي.

دعلمي پرمختګونو أسباب:

۱_ د سترو شخصيتونو او علماوو لخوا ولسونه دې ته هڅول چې خپل ماشومان ديني مدارسو او ښوونځيو ته وليږدوي.

۲_ د شرعي علومو لپاره ځانګړې مدرسې جوړول او د تدريس لپاره پکې تکړه علماء ګمارل.

۳_ د زدکوونکو او ښوونکو لپاره اعاشه او د ژوند ضروريات پوره کول؛ ترڅو خپل هدف ته يې زړونه فارغ شي.

٤_ د کتابونو د چاپ اهتمام او کتابونو ته د لاسرسي په وړاندي د شته ستونزو له منځه وړل.

٥_ زدکوونکو ته ستر ستر او پاک شخصيتونه ښودل؛ تر څو هغوی د زدکوونکو لپاره مقتدايان(ايډيالونه) وګرځي او دوی يې پيروی وکړي او علم ته له هغې لارې ور داخل شي، له کومو لارو چې سلف صالحين ور داخل شوي وو.

٦_ په هره مدرسه او جامعه کې زدکوونکو ته د کتابتونونو زمينه برابرول؛ ترڅو دوی وکولای شي د اړتيا په صورت کې د هر فن کتابونو ته مراجعه وکړي او خپله علمي تنده پرې خړوبه کړي.

۷_ په زدکړه کې اخلاص او للهيت(د الله تعالی رضا لټول)

۸_ زدکوونکو ته معاصر آلات برابرول لکه کمپيوټر او الکترونيکي وسائل؛ ځکه دا شيان له دوی سره د علم په تحصيل کې ښه مرسته کولای شي. خو داسي نه چې په معاصرو آلاتو باندي د کتابونو له مطالعې اکتفا وکړي.

۹_ د کتابونو له تدريس سره سره د زدکوونکو په تهذيب، تأديب، تزکيه او اصلاح ډېر ترکيز کول.

۱۰_ د تعليم په هره درجه کې د زدکوونکو د اذهانو برابر هغه کتابونه درجول چې د سلفو صالحينو په ژوند ليکونو مشتمل وي.

۱۱_ زدکوونکو ته د لوړ همت، سالم فکر، روښانه راتلونکي او ويښ احساس انګيزه ور ښيل.

۱۲_ په زدکوونکو باندي حلاله نفقه خوړل او له شبهاتو څخه يې لري ژغورل.

۱۳_ د زدکوونکو تر ډېروالي استعداد او علمي کمال ته اولويت ورکول.

١٤_ د زدکوونکو لپاره علمي سيالۍ رامنځته کول.

١٥_ له زدکوونکو څخه وخت په وخت ازموينې اخيستل.

١٦_ زدکوونکو ته خپل مسؤليتونه ور ښودل او اهدافو ته يې متوجه کول.

١٧_ زدکوونکي د وخت په اهميت پوه کول او د وخت ژغورلو لپاره په درسي نظام کې مناسب تقسيم اوقات جوړول.

١٨_ له مدارسو څخه نا اهله او د فاسدو اغراضو زدکونکي شړل.

کله چې مو د زدکوونکو پرمختګ ته پاملرنه وکړه؛ نو دغه زدکونکي به د راتلونکي رهبران جوړيږي، دوی به د سلفو په څېر دين ته بې ساري خدمتونه کوي، امت به له ګمراهۍ ژغوري او مسلمانان به د جهل له تاريکيو را باسي.

# د اسلامي امارت پر وړاندې پراته خنډونه

**دکتور محمد يحيی مجددي**

۱- د قوانينو او لوائحو تطبيق:

د هر نظام او دولت په وړاندې چيلنجونه او ستونزې پرتې وي چې اکثره وخت دغه چلنجونه د حکومت لپاره په کارونو کې د مخته ورلو د کمزورۍ لامل کېږي، او يا د ولس د ستونزو په حلولو کې خنډونه جوړوي.

اسلامي امارت هم د دغسې چيلنجونو سره لاس او ګريوان دی.

د دغه چيلنجونو له جملې څخه چې شايد تر ټولو مهم يې په امارتي ارګانونو او ادارو کې دقوانينو، ضوابطو او لوائحو تطبيقـول وي او دي.

دغه قوانين او لوائح د کابل دېخوانۍ اجيرې ادارې له لوري د ميليونونو ډالرو په مصرف او د ځمکني واقعيتونو او موجوده اداري سياسي او ټولنيز وضعيت سره په ټکر کې د نورو هيوادونو د قوانينو او مقرراتو څخه کاپي شوي چې د عملي کيدو امکانات يې هيڅ په پام کې نه دي نيول شوي.

د کابل د اجيرې ادارې مشران او مامورين د دغو قوانينو په حقيقت پوهيدل ځکه خو يې په کامله توګه نه عملي کول، د واسطې راوړلو او يا رشوت په اخيستلو يې تر پښو لاندې کول، له همدې امله که څه هم خلکو له فساد څخه شکايت کولو خو بيا يې هم کارونه د واسطې راوړلو او يا په رشوت ورکولو مخکې تلل.

اوس له دوو کلونو څخه اسلامي امارت هماغه قوانين او لوائح پرته له دې چې د دغه قوانينو او لوائحو د تطبيق عملي امکانات وسنجوي او يا ناوړه پايلې پر حکومتي سيستم او پر ولس درک کړي په ډېر جديت په کامله توګه عملي کوي، چې له امله يې د ډېرو خلکو ورځني کارونه له ځنډ او خنډ سره مخامخ کړي او حتی د کابل د تېرې ادارې د قوانينو او لوائحو له امله حکومتي اجراءات پيچلي او سست شوي، چې نه يوازې ولس متضرر کېږي بلکې حکومت هم د دغه قوانينو او لوائحو د پلي کولو له امله متضرر شوی.

د تيرې اجيرې ادارې پاتې شوي مامورين هم د قوانينو او لوائحو د عملي کولو په پلمه د خلکو او حتی د امارت د منسوبينو د اجراءات په وړاندې خنډ واقع کېږي.

که چيرې د اسلامي امارت مشران متوجه نه شي او د دغه قوانينو بې روحه عملي کول ونه درولې شي له شکه چې د رعيت د خپګان، غصې او له حکومت څخه د لري والي لامل به شي، بلکې د حکومتي کړنو د معطل کيدلو او ټولنيزو، اقتصادي او سياسي ډګرونو کې د پرمختګ او ترقي د مخنيوي لامل ګرځي.

نو....

د دغې ستونزې د حل لپاره وړانديز کېږي چې د اسلامي امارت رهبري يو با صلاحيته کميسيون وټاکي تر څو په عاجله توګه دغه قوانين او لوائح له سره وګوري او پر حقيقت ولاړ او مځکيني واقعيتونو سره سم تيار کړي.

همدارنګه وړانديز کېږي: دا چې پورتنی کار حتماً وخت نيسي نو وزارتونو، اداراتو او ارګانونو ته دې لارښوونه وشي تر څو هغه شمير مواد له خپلو داخلي قوانينو او لوائحو څخه لرې کړي چې د حکومت په وړاندې د کړنو خنډ او د پر مختګ او ترقي مخنيوی کوي او د ولس د ځورونې لامل او د ملي ګټو سره په ټکر کې دي تر څو د حکومت او رعيت کارونه په سمه او په چټکه توګه ترسره شي.

# تیم سیار مابه منظور پاک نگهداشتن محیط زیست...

نزدیک شدن است،خطر استفاده از مواد دود زادر بلند منزل ها جهت گرم کردن مرکزگرمی ها در راه هست.با وجود تلاشهای اداره ملی حفاظت محیط زیست آب و هوای شهر کابل آلوده است.اکثراً امراض تنفسی ا ز چنین آب و هوای آلوده بوجود میاید.در این زمینه خبرنگار ما مصاحبه ای را با محترم انجنیر طوفان((جبران))آمر کنترول تاسیسات صنعتی و تجارتی اداره ملی حفاظت محیط زیست انجام داده،که اینک آنرابه خوانش میگیریم.

پرسش:طوریکه دیده میشود هنوزهم آب و هوای شهر کابل آلوده است،اداره ملی حفاظت از محیط زیست در زمینه پاک نگهداشتن آب وهوای کابل چه فعالیتها را انجام داده است؟

پاسخ: تیم سیار مابه منظور پاک نگهداشتن محیط زیست همه روزه ازساحات مختلف شهر کابل دیدن میکند.این اداره فعالیتهای زیادی را انجام داده است، که در مرحله نخست یک پلان پنج ساله به منظور کاهش آلودگی آب و هوای شهر کابل داریم.همه روزه از ساحات مختلف کابل نمونه گیری میکنیم و آب را چک کرده که آلوده نباشد و اگرآلوده باشد درچه حد میباشد؟ ما دراین زمینه با وزارت محترم انرژی و آب در ارتباط هستیم و گزارشات کار خودرابا آن وزارت شریک میسازیم که آب و فاضلاب رابه شکل درست وتخصصی مدیریت کند.

پرسش :تراکم وسایط نقلیه و به خصوص آنعده وسایط که دودزا هستند و آب و هوای شهر را آلوده میکند.شمابا همکاری ادارات مربوط تا چه حد ازخطرات آن جلوگیری کرده اید؟

پاسخ:در رابطه به آلودگیهای شهر به ویژه وسایط دودزا در تشریک مساعی با ریاست محترم ترافیک کابل یک پلان عملیاتی را ایجاد کرده ایم و در این زمینه ازمدت سه ماه به اینطرف یک کمیته مشترک درهماهنگی با وزارت صحت عامه،اداره ملی حفاظت از محیط زیست که در راس ښاروالی کابل،قوماندانی امنیه کابل وهمینگونه مدیریت ترافیک کابل فعالیت میکنند همچنان ازجانب مدیریت ترافیک کابل نیز پلانهای ماهوار تهیه میشود.در۱۳ نقطه شهرکابل چک پاینتها بوجود آمده ،که روزانه یک ساعت ازطرف صبح و یک ساعت ازطرف بعد ازظهر برعلاوه چک اسناد وسایط نقلیه وسایط دودزا را نیز توقف داده اسناد شانرا گرفته وجهت اصلاح انجن مؤظف ساخته میشود و در صورت اصلاح آن بعداز بررسی ،اسناد موتر دوباره برای مالکان شان سپرده میشود.همینطور وسایط که بسیار فرسوده است و قابل ترمیم نیستند جهت تبدیل انجن به گمرک کابل معرفی میشوند.

پرسش:حمامها ونانوایی ها چقدر از مواد پاک استفاده میکنند؟

پاسخ:در تمام ولایات نانوایی ها از رهنمودهای اداره ملی حفاظت محیط زیست استفاده نموده گاز مایع را جایگزین مواد دودزا کرده اند و همین گونه در گرم کردن حمام ها در شهر کابل فلتر دود برای شان توصیه شده است.تمام این حمام ها بافلتر دود مجهز هستند. گاهی اوقات که فلتر ها آبی میباشند در صورت قطع برق نیاز به برق دارد؛اما زمانی که قطع برق صورت میگیرد دود بوجود میاورند.به حمام ها توصیه شده که به سولر روی بیاورند ویا جنراتور داشته باشند که فلتر دود همیشه فعال باشند.در این زمینه هماهنگی خوب وجود دارد .شاروالی کابل به حمام ها فشار وارد ساخته که خودرا با این روند همگان سازند.ما تلاش کرده ایم که سیستم سوخت حمام ها و رستوران ها را از زغال سنگ به گاز مایع تبدیل کنیم .

پرسش:شما در زمینه پاکی حمام ها و رستوران ها چقدر موفقیت دارید؟

پاسخ:در سطح شهر کابل خبازیها را از نقطه نظر سوخت مواد دود زا صفر ساخته ایم.در حال حاضر تمام نانوایی ها از گاز مایع استفاده میکنند.در این راستا همه روزه ۸ تیم ما از ساحات مختلف شهرکابل دیدن میکند.در سطح ولایات کشور هم همین روند وجود دارد.،که کارمندان ما از نقاط که خلاف محیط زیست فعالیت دارند از دساتیر این اداره آنهارا اگاه میسازد.

پرسش:همکاری شما با شاروالی کابل جهت جلوگیری از موجودیت کثافات در کوچه ها وسرکها چطور است؟

پاسخ:همکاری ما باشاروالی کابل وجود دارد.هدایات که از طرف اداره ملی حفاظت محیط زیست برایشان داده میشود آنها مکلف هستند زباله ها را درست مدیریت کنند.برعلاوه زباله های شهری زباله های کلنیکی هم وجود دارد.این زباله ها باید تفکیک شوند.زباله های شهری در جای دفن گردد که باعث انتقال وشیوع امراض گوناگون نه شود.خوشبختانه همه روزه زباله های شهرکابل به محلات تعین شده انتقال میابد.در گذشته یک مقدار این زباله ها در سطح شهر باقی میماند؛اما کنون این مشکل رفع شده است.شاروالی امکانات خوبی در اختیار دارد همه روزه این زباله هارا در گزک دوم انتقال داده ودفن میکند.

پرسش:برای پاکی هرچه بیشتر شهر کابل از لوث کثافات چه پلان دارید؟

پاسخ:اداره ملی حفاظت محیط زیست یگانه اداره پالیسی ساز میباشد و همچنان نظارت گننده این پالیسی ها نیز میباشد.ما در هر بخش پلان های خودرا به خاطر پیشرفت کار داریم.این پلان با ادارات که با ما همکار هستند برایشان ارایه شده و آنرا تطبیق میکنند.در زمستان پیشروی هم پلان پنجساله را در زمینه مهار آلودگی هوا در سطح کابل و پنج شهربزرگ کشور روی دست داریم.فعلاً که ماه سنبله میباشد برای ٦ ماه برنامه کاهش آلودگی هوا را داریم.طورکه هموطنان ما همه روزه شاهد جماوری و انتقال زباله ها هستند. امکانات شاروالی خوب شده است.ما سعی میکنیم که این فعالیت ها تسریع شود، که شهر کابل از لوث کثافات پاک گردد.

پرسش:برای شهریان کابل و ولایات چه پیغام دارید؟

پاسخ:پیام ما به شهروندان کابل و سایر شهرهای کشور اینست که محیط زیست راکه متعلق به همه مردم است در پاک نگهداشتن آن توجه کنند و از مصرف کردن آب زیاد جلوگیری کنند . در صرفه جویی آن از هیچگونه مساعی دریغ نورزند .برعلاوه این کار از سوختن مواد دود زا که محیط زیست را آلوده میسازد خود داری کرده و از مواد پاک و غیر دودزا استفاده کنند.از اثر آلوده شدن آب و هوا امراض گوناگون بوجود میاید. هرگاه زمستان هوا سرد شود از مواد دودزا استفاده نکنند.و همینگونه اگر یک تن زغال سنگ میخرند نیم تن بخرند که هوا آلوده نه شود.با رعایت این توصیه ها صحت وسلامتی خود و هموطنان خودرا از امراض گوناگون نجات میدهند.

**نوری**

# زه وږی یم خواږه راکړه!!!

لیکوال عبدالحمید جوده السحار - ژباړن شرر ساپی

په السنح کې د کور دروازه خلاصه شوه، اته پنځوس کلن سپین ږیری ترې راووت، نرۍ ونه یې لرله، په ملا لږ کړوپ شوی و، د روغ زړه او ضمیر څښتن و، نرم مزاجه او خاکساره و، خلکو ورسره مینه کوله، د خلاص ذهن څښتن و، له حماست نه ډک و، په کې یې اصلاح او ښېګڼه لیدله، په شنه سهار یې پراخه ګامونه اخیستل چې خپل هغه ملګري پسې لمونځ وکړي، له کوم څخه چې له ماشومتوبه نه دی بېل شوی. په ټولو غزاګانو او پېښو کې ورسره و، دا ابوبکر صدیق دی.

له ماشومتوبه له خپل ملګري څخه اغېزمن و، له هغه نه یې مخکې له دې چې پېغمبر شي زده کړي و چې بتان تشې ډبرې دي او قومیان یې د ډبرو عبادت کوي، کله چې زلمی شو، ابوقحافه له لاسه ونیوه، د بتانو ځای ته یې وروست، ویې ویل:

- دا ستا لوړ خدایان دي.

دی یې پرېښود او هغه ترې لاړ، ابوبکر بت ته ورنېږدې شو، ورته یې وویل:

- زه وږی یم خواږه راکړه.

هغه ځواب ورنه کړ، بیا یې وویل:

- زه لغړ یم، ما پټ کړه.

بیا یې ځواب ورنه کړ، په یوه ډبره یې وویشت او پرمخې راوغورځېده، په همدې شیبه کې یې د زړه او ذهن کړکۍ د نوي دین د رڼا په لور خلاصې شوې، عقل یې مني او زړه یې د پلار او نیکونو د هغه دین له تعصبه پاک شو چې هغوی یې عبادت کاوه.

الله تعالی محمد صلی اللهﷺ د پیغمبر په صفت. زېری ورکوونکی او تبلیغ رسوونکی راولېږه، نو د خپل ماشومتوب ملګري یې اسلام ته راوباله، ابوبکر مسلمان شو، پوه شو چې رسول اللهﷺ کوم دین ده ته وړاندې کړی دی، د سالم فطرت سره برابر دی، د وجود له منطق سره سم دی، دا چې زړور و، حق یې په جهر وایه نو خپل اسلام یې اعلان کړ، خلک یې الله او د هغه رسول ته راوبلل؛ د هغه په دعوت عثمان بن عفان، زبیر بن العوام، عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابي وقاص، طلحه بن عبیدالله، ابوعبیده بن الجراح، ابوسلمه المخزومي، ارقم بن ابي الارقم. عثمان بن مظعون او ورور یې مسلمان شول.

عثمان بن مظعون یو له هغو کسانو څخه و چې په جاهلیت کې یې شراب څښل حرام کړي و، ویې ویل:

- زه هغه څښاک نه څښم چې زما عقل یوسي او هغه څوک رابانديې وخانديې چې له ما یې سویه ټیټه وي.

کله چې شراب حرام شول، ورته وویل شول:

- شراب حرام شول.

- هلاک دې شي، زما نظر یې په اړه سم و

ابوبکر په ټول وجود او زړه اسلام ومانه، د هغه له مسلمانېدو وروسته ډېر خلک مسلمانان شول، خو د ابوبکر اسلام یو ځانګړی شی و، د رسول اللهﷺ په وجدان کې یې ژور اغېز پرېښود، تر دې چې ویل به یې:

- ما چې څوک هم د اسلام دین ته دعوت کړی دی، یو ډول لټې یې کړې او زړه نازړه شوی دی، خو ابوبکر هیڅ ډول سستي ونه کړه او نه یې هم په دې اړه کوم بې زړه توب وکړ.

له لومړۍ ورځې نه چې ابوبکر د اسلام دین منلی دی، نو د اسلام او د اسلام د نبي ښه مرستندویه پاتې شوی دی، رسول اللهﷺ له کعبې نه طواف کاوه چې د قریشو مشرانو پرې ورودنګل، ترې چاپېره شول، یو سړي یې څادر ونیوه او زور یې ورکړ، ابوبکر په ژړا ورته وایي:

- تاسې هغه څوک وژنئ چې هغه وایي، زما پالونکی الله دی؟

ابوبکر د اسلام په روح باندې ژور پوهه شو، اسلام د دې لپاره راغلی چې روحونه ازاد کړي او مریان خلاص کړي، که به د کوم مریي د ازادولو چانس په لاس ورغی، صرفه به یې پرې نه کوله، خپل غلام عامر بن فهیر، ام عبیس او زنیره یې ازاد کړل، کله چې یې دوی ازاد کړل، نو د سترګو نظر یې کمزوری شو، قریشو وویل:

- نظر یې یوازې او یوازې لات او عزا له منځه یوړه.

ویې ویل:

- په بیت الله سوګند دروغ یې وویل، لات او عزا نه ګټه رسولی شي او نه هم کوم تاوان اړولی شي.

نهدیه او د هغې لور یې ازاد کړل، دا د بني عبدالدار د یوې مېرمنې وینځې وې، ابوبکر پرې تېر شو، باداري یې وړه ورکړې و او ورته وایي:

- په خدای که مو ازادې کړم.

- ای د فلانې مورې له خپل سوګند نه تېره شه.

- ایله یې کړه، دا خو تا رابانديې خرابې کړې دي، اوس یې نو ازادې کړه.

- په څو دې؟

- په دومره او دومره.

- ما واخیستې او دوی ازادې شوې، وړه یې ورکړئ.

دواړو په داسې حال کې وویل چې اسلام یې د مسئولیت احساس غښتلی کړی و:

- دا وړه به ورته خلاص کړو. بیا به یې ورکړو؟

- دا ستاسې خوښه.

د بني مومل په وینځه تېر شو، بني مومل د بني عدی بن کعب یو کندی(خېل) و، دا وینځه مسلمانه شوې وه، عمربن الخطاب به شکنجه کوله چې دین پرېږدي، هغه وخت عمر مشرک و، په وهلو به یې چې ستړی شو، بیا به یې وویل:

- بخښنه غواړم؛ ستړی شوم ځکه مې پرېښودې.

- الله پاک دې په تا همداسې وکړي.

ابوبکر ترې واخیسته او ازاده یې کړه.

ابوبکر په بلال بن رباح تېر شو، هغه شکنجه کېدو، د ابوبکر کور په بني جمح کې و، نو امیه بن خلف ته یې وویل:

- د دې بېوزله په حق کې له خدایه نه وېرېږې؟ تر څو؟

- دا خو تا رابانديې خراب کړی دی، اوس یې نو ازاد کړه.

- دا کار به وکړم، زه یو تور پوسته مریه لرم، تر دې غښتلی دی، ستا په دین دی، په هغې یې راکړه.

- قبوله مې ده.

- در مې کړ.

ابوبکر خپل غلام ورکړ او بلال یې ترې واخیست او ازاد یې کړ.

ابوقحافه د خپل زوی دا کارونه لیدل، نو هغه به حیرانېده، ابوقحافه د خپلو نیکونو په دین و، تر اوسه لا مسلمان شوی نه و، د اسلام روح یې لا تراوسه نه و حس کړی. دا ورته سخته وه چې د خپل زوی په دې کارونو یې سر خلاص شي، هغه د خپل زوی کارونه په مادي مقیاس اندازه کول.

ابوقحافه ابوبکر ته وویل:

- زویه زه دې ګورم چې کمزوري خلک ازادوي، که دا کار کوې نو غښتلي خلک ازاد کړه چې سبا خو به دې ملاتړ وکړي.

- ای پلاره زه دا کار یوازې د الله تعالی د رضا لپاره کوم.

نو الله تعالی یې په اړه ایاتونه نازل کړل:

ﭐ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى (٥) وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى (٦) فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى (٧) وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَى (٨) وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى (٩) فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى (١٠) وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّى (١١) إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَى (١٢)ﱠ( ).«او هر چې هغه څوک دي چې ورکړه کوي او وېرېږي، د ډېرې ښکلې کلمې تصدیق کوي، نو موږ به ضرورده ته د اسانې لارې اسانتیا ورکړو او هر چې هغه څوک دي چې بخیلي کوي و بې پروایي کوي او د ډېرې ښکلې کلمې تکذیب کوي، نو موږ به ضرور ده ته د سختې لارې اسانتیا ورکړو او کله چې دی په کنده کې غورځیږي، د ده مال به د ده هیڅ په کار رانشي، بېشکه خاص زموږ لپاره د دنیا او اخرت ده. ( د دواړو اختیار دی)».

د قریشو کافرانو په مسلمانانو باندې فشارونه زیات کړل، په ابوبکر باندې مکه تنګه شوه، له رسول اللهﷺ نه یې د هجرت اجازه وغوښته، اجازه ورکړل شوه، ابوبکر د مکې څخه د یوې او یا دوه ورځو په فاصله لرې لاړ چې د احابیشو له مشر ابن الدغنه سره مخ شو، هغه ورته وویل:

- ابوبکره چېرته؟

- قومیانو مې راوشړلم، ویې زورولم او زمکه یې رابانديې تنګه کړه.

- نو ولې؟ په خدای چې ته خو له خلکو سره لاس اړوي. نیکي کوې، بېرته وګرځه، تاته زه پناه درکوم.

ورسره راستون شو، کله چې مکې ته ننوت، ابن الدغنه راپورته شو او ویې ویل:

- ای قریشو ما د ابو قحافه زوی ته پناه ورکړې ده، هېڅوک ورته په کړه ونه ګوري؟

نو قریشو له دې وروسته له ابوبکر څخه لاس ونیو. ابوبکر په بني جمح کې د خپل کور د دروازې مخ ته مسجد درلود، په هغې کې به یې لمونځ کاوه، زړه سوانده و، کله چې به یې قران لوست، ژړل به یې، نو ښځې، ماشومان، مریان به یې ننداریې ته ودرېدل، په ډېره حیرانتیا به یې ورکتل، د قریشو ځیني خلک ابن الدغنه پسې ورغلل ورته یې وویل:

- ابن الدغنه تا دې سړي ته د دې لپاره پناه نه ده ورکړې چې موږ وزوروي، دا خو داسې یو سړی دی چې کله هم لمونځ کوي او د محمد خبرې وایي، نو ژاړي، موږ په خپلو ماشومانو، ښځو او مریانو باندې وېرېږو چې په دې فتنه کې یې وانه اچوي، ورشه ورته ووایه خپل کور کې دې هر څه کوي، خو له کوره د باندې یې ورسره نه منو.

ابن الدغنه په ابوبکر پسې ورغی، ورته یې وویل:

- ابوبکره ما د دې لپاره پناه نه ده درکړې چې ته دې خپل قوم وزوروې، هغوی دا نه خوښوي چې ته دې په مسجد کې ولاړ یې او دوی له تانه وزورویږي، کور ته دې ننوځه، هلته چې دې څه خوښه ویې کړه.

- په تا به دې خپله پناه بېرته دروسپارم او زه به د رب په پناه خوښ شم؟

- بېرته یې راکړه؟

- در مې کړه.

ابن الدغنه راپورته شو، ویې ویل:

- ای قریشو، د ابوقحافه زوی ماته بېرته خپله پناه راوسپارله، تاسې پوهه شه او هغه.

د قریشو یو کمعقل ورسره مخ شو، ابوبکر کعبې ته روان و، په سر یې خاورې وروباد کړې، ابوبکر په الولید بن المغیره باندې تېر شو، هغه ته یې وویل:

- دا بېعقله نه ګورې چې څه کوي؟

- تا نو دا په خپله په ځان کړې دي.

ابوبکر اسمان ته سترګې پورته کړې او ویې ویل:

- ای ربه ته څومره زغمناک یې، ای ربه ته څومره زغمناک یې، ای ربه ته څومره زغمناک یې.

رسول اللهﷺ اسراء ته ولاړ، په سبا یې قریش له خپل سفر نه خبر کړل، ډېرو یې وویل:

- په خدای چې دا د حیرانتیا ډکه خبره ده، په خدای چې قافله په یوه میاشت کې له مکې نه شام ته او په یوه میاشت کې له شام نه مکې ته رارسیږي، ایا محمد په یوه میاشت کې ولاړ او بیا بېرته مکې ته راستون هم شو.

نو ډېر خلک مرتد شول، خلک په ابوبکر پسې ورغلل، ورته یې وویل:

- ابوبکره له ملګري نه دې خبر یې؟ دعوه لري چې د شپې بیت المقدس ته تللی، لمونځ یې هم په کې کړی دی او بېرته مکې ته راستون شوی دی.

- تاسې پرې دروغ تپئ.

- نه، موږ چې څه وویل، همداسې ده، په مسجد کې دی، خلکو ته یې کیسې کوي.

ابوبکر په پوره باور وویل:

- په خدای که هغه ویلي وي، بیا یې رښتیا ویلي دي، تاسې ولې حیران یاست؟ په خدای هغه موږ ته وایي چې خبرونه ورته د الله له لوري له اسمانه زمکې ته د ورځې او یا شپې په یو ساعت کې رارسیږي او موږ پرې باور کوو، دا خو له دې څخه ډېره حیرانونکې ده.

هغه خو د محمد صلی اللهﷺ په رسالت باور لري او ټول هغه څه یې رښتوني کړي چې په محمدﷺ نازل شوي دي، هغه صدیق دی، که د ټول امت ایمان د ابوبکر له ایمان سره وتلل شي، نو د ابوبکر تله به پرې درنه شي.

مسلمانانو مدینې ته هجرت وکړ، رسول اللهﷺ په مکې کې ځینې کسان له هجرته پاتې کړل. په مکه کې یو تن مهاجر هم پاتې نه شو، پرته له هغوی چې یا زندانیان وو، یا بېرته له دینه اوښتي وو، خو علي بن ابي طالب او ابوبکر یواځیني صحابه وو چې د رسول اللهﷺ په امر پاتې وو.

ابوبکر به ډېر ځل له رسول اللهﷺ نه د هجرت اجازه وغوښته، خو رسول اللهﷺ به ورته وویل:

- بېړه مه کوه، کیدای شي الله تعالی درباندې سهار کړي.

د ابوبکر تمه پیدا شوه چې رسول اللهﷺ د ځان لپاره پاتې کړی دی، کله چې الله تعالی خپل نبي ته د هجرت امر وکړ، نو د ابوبکر کور ته ورغی، ویې ویل:

- الله تعالی ماته د هجرت او له مکې نه د وتلو اجازه وکړه.

- ای د الله رسوله. له تاسې سره ملګرتیا ده.

- هو.

ابوبکر له ډېرې خوشالۍ نه وژړل، بیا یې وویل:

- ای د الله نبي، دا دوه سپرلۍ مې همدې ورځې ته چمتو کړې وې.

د ابوبکر د کور د شاه له کړکۍ ووتل. بیا نېغ د ثور غار ته ولاړل، د شپې ورننوتل. ابوبکر له رسول اللهﷺ نه مخکې ورننوت، په سمڅه کې وګرځېده، هسې نه چې کوم زهرجن خزنده په کې نه وي.

درې شپې ووتلې، خلک ترې یو څه ارام شول، اوښان یې راوستل، کله چې یې ابوبکر رسول اللهﷺ ته اوښان ورنیږدې کړل، نو ښه اوښ یې رسول اللهﷺ ته ورکړ، ورته یې وویل:

- مور او پلار مې درنه ځار شه، ورخیژه.

- زه په هغه اوښ نه سپریږم چې زما نه وي.

- ای د الله رسوله، هغه ستا دی، مور او پلار مې درنه ځار شه .

- نه، قیمت یې راته ووایه.

- په دومره او دومره مې اخیستی دی.

- ما هم درنه په همدې واخیست.

- ای د الله رسوله، هغه ستا شو.

دواړه سپرلیو ته وختل او روان شول؛ رسول اللهﷺ داده زړه روان دی، حقیقتونه ورته برسیرن کیږي، په زړه کې یې رڼاګانې اړول کیږي او د خپل بصیرت په سترګو باندې د ملکوتي عالم ویني، له حواسو شاته شیان ګوري، رېښتوني شعور احساسوي، بې له شکه چې هغه له الله سره دی او الله تعالی له هغه سره دی، ابوبکر په الله تعالی خوشاله دی، په ټول وجود په تلپاتې شېبه کې ژوند کوي.

هغه په خپله لار غوره کړې ده. په خپله خوښه او رضا یې، له ملګرو څخه جلا والی، جلا وطني او دردونه غوره کړي دي، ازادي ارادي یې په سرکښه سعادت کې ډوب کړی دی، نو پر وړاندې یې هره سختي اسانیږي، له دنیا سره یې ټولې اړیکې شلولې دي، الله تعالی ته یې مخ کړی دی، نو ذات یې په داسې انوارو وځلیده چې په نفس کې یې ټولې بېځایه هیلې او تمې ویلي کړې. هغه د ایمان خواږه څکلي دي، د الله نعمتونو ته یې تلوسه زیاته شوې ده.

وړه قافله د الله تعالی په پراخه معبد کې روانه ده؛ د رسول اللهﷺ ژبه د الله په ذکر لمده ده، ابوبکر د الله تعالی په جلال، عظمت او د زمکې او اسمانونو په ملکوت کې له ځانه ورک دی، نو د لارې خطر او ګواښ یې بېخي له یادو ویستلی دی، په ژور ایمان یې انګیرله چې الله تعالی به خپل رسول او مبلغ سره مرسته کوي، هم هغه سپېڅلي تعالی خپل بنده ته د هجرت امر وکړ، نو هیڅکله به یې ضایع نه کړي، په لاره یې د ابوبکر غلام عبدالله بن فهیره خدمت کاوه او لارښود په داسې لارو روان کړل چې د خلکو له سترګو نه لرې وي.

کاروان وړوکی و، خو پېښه د بشریت په تاریخ کې تر ټولو لویه وه، د فساد وېښې د تمدن د ونې په ډډ اخته وې، خلکو یو بل په خدای ولی نیولي و، ملت به د خپل پاچا عبادت کاوه، زورواکو به کمزوري، مریانول، شتمنو به په ځمکه کې په خپلو شتمنیو فساد کاوه، په ټول وجود باندې تیاري ګونډې خښې کړې وې، بې هیلې ژوند و او بې پایانه ضیاع وه. روماني دولت د شرابو او حسي خوندونو په نشه کې ډوب و، د ولس په زبېرګیو یې غوړونه کانه کړي و، د ظلم او ظالمانه ټکسونو په ژرنده دلی کېدل، قیصر خدای ګرځېدلی و، کلیسا له اسمانه مخ اړولی و، امپراتوري مانۍ د وحې مصدر او د برکتونو منبع وه، شتمنو به د نجونو په ځای له هلکانو سره خپله جنسي غریزه سړوله، ایراني دولت اورتونونو ته په سجده پروت و، په ډډ کې یې فساد ننوتلی و، جګړو هم ډېر ځپلی و، خزانې تشې شوې وې، زورور لګیا دي د کمزورو حقونه هضموي، ژوند بې هدفه روان و، ګونډې د نرۍ پیدایښت یې بېځایه او باطل کار دی، په همدې وخت کې بد بوی د بشریت زړه ته رسیدلی و، نو په همدې شیبه کې هغه وړوکی کاروان چې له مکې نه وتلی مدینې ته روان دی، کاروان نه دی یوه ځلېدونکې رڼا ده، هیله او د انسانیت د هرې ناروغۍ لپاره درمل دی.

دا یو اعلان دی چې له نن وروسته به یوازې د یو الله عبادت کیږي، هیڅ کس به پر بل فضیلت نه لري، د فضیلت معیار به یوازې او یوازې تقوا وي. انسان په ځمکه کې د الله تعالی خلیفه دی، ازاد دی، غاړه یې خلاصه ده، اراده یې ازاده ده، کومه عقیده چې غواړي او څنګه فکر چې غواړي ازاد دی، خو د خپلې ازادۍ مسئولیت به په خپله اخلي، د خپل کار او تفکیر مسئولیت به په خپله اخلي، ژوند عبث نه دی، بلکې د یو بل تلپاتې ژوند لپاره پیلامه ده.

کار عبادت وګرځېده، د علم حاصولول عبادت شو، د نفس او بدن پاکوالی عبادت شو، د الله د امر سره سم د شتمنیو لګولو عبادت شول، په کار او وینا کې رېښتونولي عبادت شوه، له مورو او پلار سره نیکي عبادت شوه، د ظلم پر وړاندې درېدل عبادت شول، د خلکو له ازاره لاس نیول عبادت شول، له وږ او ناوړو سره نیکي کول عبادت شول، د ټول بشریت لپاره د ښېګڼې غوښتل عبادت شول، په ناخوښو شیانو باندې صبر عبادت شو، له لارې نه د یو ناوړه شي لرې کول صدقه شوه، د ورور په مخ دې موسکا هم صدقه شوه.

# د فرهنګي مبارزې ډولونه

**لومړی برخه – مولوي نورالحق مظهري**




د فرهنګي مبارزې په ارزښت کې مو په تېرو لیکنو کې ډېر څه لیکلي،خو دومره ویلای شو چې فرهنګي مبارزه د یو ملت لپاره د خپل هویت ساتنې او غځونې ډېره غوره او اساسي لار ده ځکه په فرهنګي مبارزه کې فکرونه او فرهنګونه هدف ګرځول کېږي چې په ذریعه یې غټ غټ ملتونه تسخیر کېږي او نظامي واک ته لار وربانديې آماده کېږي.

که مسلمانان په فرهنګي مبارزه کې تل ویښ وي او د دین په چوکاټ کې یې د ننه لومړیتوبونو ته په پام پر مخ یوسي زه مطمئن یم چې خپل دین، وطن او مقدسات به په تمامه معنی په هر ځای او هر وخت کې په پوره توګه وساتي او نه تنها دا چې و به یې ساتي بلکې نورو ملتونو ته به یې هم وغځوي او ورځ تر بلې به ډېر کسان د اسلام په مبارک دین کې داخلېږي او له ټولو مهمه لا دا چې په اسلامي هېوادونو کې د ننه به خلک د فکري او سیاسي انحراف څخه وژغورل شي چې په نتیجه کې به حاکم اسلامي نظامونه د سقوط او زوال څخه خوندي وي او په کومو ځایونو کې چې اسلامي نظامونه نشته هلته به یې حاکمیت ته لاره آواره شي.

فرهنګي مبارزه د کیفیت له مخې ډېر ډولونه لري چې موږ یې هغه مهم اقسام له فرعي څانګو سره په لاندې ډول ذکر کوو:

۱ – له اسلام څخه دفاع:

په دې خاطر چې مسلمان د خپل دین د ساتنې او غځولو په وړاندې ډېر درونه مسئولیت لري د مسلمان لپاره د فرهنګي مبارزې لومړی هدف باید د اسلام څخه دفاع وي ځکه د دین په ساتنې سره د ده ټوله ژوند او د ژوند ټولې برخې خوندي کېدلای شي او چې دین یې څومره ډېره جغرافیه تر پوښښ لاندې نیسي په هماغه کچه یې په ټولیز ډول په ژوند کې مثبت بدلون راځي او د بله پلوه هر ډول دښمن یې په هر ډګر کې د ناکامۍ او سرټیټۍ سره مخامخ کېږي چې په نتیجه کې به مسلمانان او اسلامي هیوادونه د هر ډول یرغل او برید څخه خوندي کېږي.

د فرهنګي مبارزې په ډګر کې د اسلام ساتنه په لاندې طریقو کولای شو:

الف: د دین لپاره دعوت؛ د دین لپاره دعوت کول هغه مهم او اساسي کار دی،چې په عملي کولو سره یې نه تنها دا چې دین خوندي کېږي بلکې دین غځېږي هم او په مسلمانانو کې د تقوا او په کفارو کې د ایمان راوړلو احساس پیدا کېږي ځکه نو که وګورو د اسلام د راتګ څخه بیا تر اوسه پورې یو د هغو څلورو شیانو څخه چې د اسلام په ساتنه او غځولو کې یې فعال رول لوبولی دی دعوت دی.

دین ته دعوت په حضوري او شفاهي ډول هم کېږي او د میډیا له لارې هم کېږي؛ په حضوري ډول یې انسان په جوماتونو، مدرسو، ښوونځیو او هر هغه ځای کې کولای شي چې انسانان په کې راټولېږي او د میډیا له لارې یې په کتبي، ږغیز او ویډیویي شکل او ټولنیزو شبکو په واسطه کولای شي.

ب: د شبهاتو ځوابول؛ د اسلام د راتګ څخه بیا تر اوسه پورې بلکې تر قیامته پورې داسې کسان شته چې په اسلام کې خلکو ته شبهات او شکونه پیدا کوي تر څو د مسلمانانو عقیدې او باورونه خراب کړي او د دین څخه یې واړوي ځکه نو دې ته سخت ضرورت دی چې مسلمانان باید داسې کسان ولري چې د دوی شبهاتو ته ځوابونه ورکړي او د عامو مسلمانانو عقیده وساتي چې همدغه فرهنګي مبارزین دا کار کولای شي؛ البته د شبهاتو ځوابول باید په ډېرې آمادګۍ او پوره حکمت سره وي کنه نو بیا نتیجه نه ورکوي.

ددې لپاره چې فرهنګي مبارزین د شبهاتو ځوابولو ته آمادګي ولري لومړی باید دوی ځانونه په خپل دین کې د عقیدې او اعمالو په برخه کې ښه ورسوي او داسې ذهني حضور پیدا کړي چې هرې شبهې ته جوړ کړی ځواب د ځانه سره ولري او بیا د شبهاتو په ځوابولو کې د تحقیق او پلټنې څخه کار واخلي چې د دې لپاره مهمه لاره د پوهانو سره ملګرتیا او ډېره سالمه مطالعه ده.

ج: تعلیم او تدریس کول؛ د اسلام په ساتنه او توسعه کې تعلیم او تدریس ډېر رول لري ځکه نو د اسلام په دفاع کې د پیل څخه بیا تر اوسه پورې ډېر مؤثر تمام شوی دی.

ددې لپاره چې موږ د اسلام د دفاع لپاره خاص بشري ځواک وروزو،مهمه لاره یې تعلیم او تعلم دی چې په عموم کې د مدرسو، مکاتبو او پوهنتونونو په چاپېریال کې ترسره کېږي او که انسانان وغواړي په هرځای کې یې عملي کولای شي چې ښه خبره هم د عمومي فرصتونو او عامو ځایونو برابرول دي البته طرزالعمل او میکانېزم د هر کار لپاره شرط دی.

تعلیم او تعلم که څه هم خپله فرهنګي خدمت دی خو په ذریعه یې په هره برخه کې کسان روزل کېدلای شي او د اسلام څخه د دفاع لپاره ډېره ښه استفاده ورڅخه کېږي ځکه نو زموږ مبارزین ورونه باید ډېره پاملرنه ورته وکړي او تل د افادې او استفادې په ډګرونو کې ځانونه وځلوي.

# یوه پېغله او ډېر مینان

**اِلهام ساحِل**

کیسه ګۍ

یوه زلمي خپل پلار ته وویل چې پر یوې پېغلې مین یم، غواړم واده ور سره وکړم. ښایست، کوډګرو سترګو، نریو وروځو او کنجك ښو یې زړه را نه وړی. پلار یې په خوښۍ سره خپل زوی ته ځواب ورکړ چې دا پېغله چېرته ده زویه چې مرکه در ته پرې وکړم؟ زوی یې ځای ځایګی ور وښود. پلار یې په مرکې لاړ، چې پېغله یې ولیده، ده هم پرې زړه بایلود. خپل زوی ته یې وویل: زویه! دا له تا سره نه جوړېږي. دا له داسې چا سره جوړېږي چې د ژوند په تجربو سمبال وي. بیا یې ځان ته ګوته ونیوله او ویې ویل (لکه زه)!!!

زوی یې چې د پلار دا خبره واورېده، هک پک شو. پلار ته یې مخ واړاوو: نه، دا نه شي کېدی. له دې سره به همدا زه واده کوم، ته نه!!!!!!!!

پلار او زوی سره په ناندریو شول، دواړو عریضه وکړه. کله چې محکمې ته لاړل او قاضي ته یې کیسه تېره کړه، قاضي ور ته وویل چې راځئ له هغې پېغلې پوښتنه وکرو چې له چا سره واده کوي. له پلاره سره که له زوی سره؟

قاضي چې پېغله ولیده، له لیدو سره سم یې زړه پرې وشکاوو او د هغې له ښایست او نازونو پسې وتښتېد! قاضي پلار او زوی ته وویل: دا له تاسې سره نه جوړېږي. دې ته زما غوندې مخور سړی په کار دی!

درې واړه وزیر ته عارض شول. وزیر چې پېغله ولیده، پلار او زوی او قاضي درې واړو ته یې وویل چې دا له تاسې سره نه جوړېږي. دې ته زما غوندې وزیر په کار دی!

څلور واړه سره په جنګ شول. خبره پاچا ته ورسېده. پاچا وویل چې ټول راشئ او پېغله هم له ځان سره راولئ، زه به مو دا لانجه هواره کړم. پاچا چې پېغله ولیده، ویې ویل چې له دې سره له ما پرته بل څوک واده نه شي کولی!!!

په دې وخت کې پېغلې وویل چې د دې ستونزې د حل کُنجي زما په لاس کې ده!!!! زه به منډه کړم، چې هر چا لومړی ونیولم، له همغه سره واده کوم. پېغلې منډه کړل، پنځه واړه مینان ور پسې شول. زوی، پلار، قاضي، وزیر او پاچا ټولو هڅه کوله چې ویې نیسي. ټولو سترګې پر پېغلې ښخې کړې وې. یوه هم لارې ته نه کتل. ناڅاپه ټول په یوه ژور کوټي کې وغورځېدل.

پېغلې له پاسه ور وکتل او ویې ویل: ومو پېژندم؟ زه دُنیا یم!!!

پر ما ټول خلک مین دي، او له ما پسې منډې وهي! هڅه کوي چې له یوه بله مخکې شي. هر څوک خپل ټول زور وهي چې ما راونیسي. تر هغې راپسې ځغلي، چې د ګور خاورې یې خوله ور ډکه کړي. مګر زه، هیچا ته هم نیوی نه ورکوم!!!

درس:

له دُنیا سره هر څوک مینه لري، او د هر چا اړتیا هم ده. مګر دا مینه او اړتیا باید د دې لامل نه شي چې خپل ژوند ترې لوګی کړو، او خپل دین ترې لوګی کړو. دُنیا باید وګټو، مګر نه د چل، درغلۍ، رشوت، سود، دروغو، چور، ظلم او د نورو د حق او ژوند د اخیستلو له لارې. باید له دُنیا سره مینه وکړو، مګر ړنده مینه نه، بینا او شعوري مینه!

## شعر او ادب

## غزل

**مولانا**

ای رستخیز ناگهان وی رحمت بی‌منتها
ای آتشی افروخته در بیشه اندیشه‌ها
امروز خندان آمدی مفتاح زندان آمدی
بر مستمندان آمدی چون بخشش و فضل خدا
خورشید را حاجب تویی اومید را واجب تویی
مطلب تویی طالب تویی هم منتها هم مبتدا
در سینه‌ها برخاسته اندیشه را آراسته
هم خویش حاجت خواسته هم خویشتن کرده روا
ای روح بخش بی‌بدل وی لذت علم و عمل
باقی بهانه‌ست و دغل کاین علت آمد وان دوا
ما زان دغل کژبین شده با بی‌گنه در کین شده
گه مست حورالعین شده گه مست نان و شوربا
این سُکر بین هل عقل را وین نُقل بین هل نَقل را
کز بهر نانَ و بقل را چندین نشاید ماجرا
تدبیر صدرنگ افکنی بر روم و بر زنگ افکنی
و اندر میان جنگ افکنی فی اِصطناع لا یُری
می‌مال پنهان گوش جان می‌نه بهانَه بَرِ کسان
جان رَبِّ خَلِّصنی زنان والله که لاغ است ای کیا
خامش که بس مُستَعجِلَم رفتم سوی پای علم
کاغذ بنه بشکن قلمَ ساقی درآمد الصلا

## غزل

**اروابناد عبدالرحمن بابا**

خوی که په دا شان وي دل ازار ستا
څه ښادي به کاندي طلبګار ستا
حیف چې اورېدی شي لیدی نشي
حسن لطافت دې پریوار ستا
بیا دوباره نه ګوري وبل ته
هر چا چې لیدلی دې رخسار ستا
خدای زده چې ته یار د کوم یوه یې
هر طرف یاران دي صد هزار ستا
ځای د پښو اېښودو مونده نشي
هومره عاشقان دي په دربار ستا
بل هسې نه وي که یې خدای کا
ما غوندې خاکسار او هوادار ستا
عشق له حسنه، حسن دی له عشقه
ته نګار زما یې، زه نګار ستا
ته زما مطلوب یې زه طالب یم
ته زما طبیب یې زه بیمار ستا
ته که تازه ګل د نوبهار یې
زه یم عندلیب په لاله زار ستا
جور که جفا ده که ستم دی
واړه مې منلي دي یکبار ستا
جور په چا څوک په بها پیري
زه یم د جورونو خریدار ستا
یو تار که ضایع شي ستا د زلفو
ځان به صدقه کړم تر هر تار ستا
سل ازمایښتونه دې راوکړه
حیف دی چې لا نشي اعتبار ستا
تېر یم زه «رحمان» له هره کاره
اوس مې ملا تړلې ده په کار ستا

## توپاني ترانې

**قاري عبدالستار سعید**

یو وخت و پۀ لاسو مو را نیولې ترانې
باور وکړئ پۀ سترګو مو لیدلې ترانې
چې لمر به ژېړېدۀ د قلم زړۀ به ډکېدۀ
ماښام به یې لۀ غرېوه څڅولې ترانې
ژړا د کوم یتیم یا رب رپا د کومې شناختې
کافي وه چې کړي ویښې خوبولې ترانې
ها څه شوې ها پۀ اوښکو کې ګویا لکه رانجۀ
ها څۀ شوې پۀ اهو کې غلې غلې ترانې
یو څوک به مرور لۀ ټولو پاس سنګر کې ناست
ګوشې کې یې پۀ مینه اورېدلې ترانې
چې زړۀ به شو بې وسه لۀ سلګیو لۀ ژړا
د ساندو بدرګې ته به راتللې ترانې
دا صور و چې ویدۀ قام ته جرس شو د پاڅون
کۀ زمونږه طوفاني زمونږ غښلې ترانې
پۀ زړۀ مې دي ډېر څۀ ربه خو یو هیله مې دا
سعید غواړي ها خپلې نا ویلې ترانې

# افغان اعلانات

وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروژه تهیه وخریداری وسایل IT و لیسنس های SSL سرتفکیت ضروریات ریاست تکنالوژی معلوماتی اشتراک نموده وآفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات ترتیب و طوری سربسته الی ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر مورخ ۸ / ۷/ ۱۴۰۲ به دفتر ریاست تدارکات طبقه ۱۴ تعمیر ۱۸ منزله وزارت مخابرات ، محمد جان خان وات ناحیه دوم شهر کابل ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و از طریق ایمیل قابل پذیرش نمیباشد. داوطلبان می توانند شرطنامه را از ویب سایت وزارت مخابرات وتکنالوژی معلوماتی WWW.MCIT.GOV.AF دریافت نمایند و درضمن داوطلبان میتوانند ذریعه فلش سافت شرطنامه را از آمریت تدارکات طبقه ۱۴ اخذ نمایند.

داوطلبان تضمین آفر را به شکل تضمین بانکی به مبلغ نود و هشت هزار (۹۸,۰۰۰) افغانی مطابق مندرج شرطنامه درجلسه آفرگشایی ارایه نمایند.

جلسه آفر گشایی به ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر مورخ ۸ / ۷ / ۱۴۰۲ در دفتر ریاست تدارکات طبقه ۱۴ تعمیر ۱۸ منزله تدویر میگردد.

***

### اعلان دعوت به داوطلبی

شرکت نفت وگاز افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه استخدام کمپنی تفتیش خارجی جهت تعتیش شرکت دولتی نفتوگاز افغانستان با شماره تشخصیه AOGC/NCCB/1402/G-033 اشتراک نموده وشرطنامه را از آمریت تهیه و تدارکات شرکت دولتی نفت وگاز افغانستان در اوقات رسمی بدست آورده داوطلبان آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه وطبق قانون وطرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز تقویمی به آمریت تهیه وتدارکات شرکت دولتی نفت وگاز افغانستان واقع ناحیه ۱۷ سرکوتل خیرخانه ارایه نمایند آفرهای ناوقت رسیده وانترنیتی قابل پذیرش نمی باشد تضمین آفر پروژه متذکره بصورت تضمین بانکی مبلغ ۱۳۵۰۰۰ یکصدو سی وپنج هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی بروزتعیین شده مندج در شرطنامه ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر در مرکز ریاست عمومی شرکت دولتی نفت وگاز افغانستان دایر میگردد.۱۰۷۴

***

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلسی تولد کارت به اسم حیات خان فرزند مسافر مفقود گردیده از اعتبار ساقط میاشد۱۰۷۲

***

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت دارای ویزه کشور دوبی به اسم سید لطیف سادات فرزند حاجی سید آباد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میاشد.۱۰۸۰

***

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلسی نکاح خط شرعی به اسم عبدالمالک فرزند عبدالحبیب و محترمه فریده بنت زیرگل مفقود گردیده از اعتبار ساقط میاشد.۱۰۱۵

***

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلسی تولد کارت به اسم علی ظفر فرزند ضامن حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط میاشد.۱۰۶۵

***

### اطلاعیه به کرایه دهی

شرکت دولتی نفت و گاز افغانستان، تانک تیل دولتی زمان خیل ولایت بغلان را بطور قرار داد به کرایه میدهد. افراد ، اشخاص وشرکت های که خواهش قرار داد آنرا داشته باشند ، درخواست های خویش را اعتبار از تاریخ نشر اعلان الی هذا الی ۲۱ روز کاری به مدیریت نفت و گاز ولایت بغلان و شرکت دولتی نفت و گاز افغانستان واقع کوتل خیر خانه سپرده و خود شان بروز معینه جهت اشتراک در جلسه آفرگشایی مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند ، تامینات اخذ میگردد.۱۰۷۳

***

### اطلاعیه مفقودی مهر

محترم یار محمد منگل فرزند نظر محمد مالک کلینیک سراپا دارالشفا آسیا که قبلا ذریعه مکتوب نمبر ۶۵۷۱۲۸ مورخ ۱۳۹۵/ ۱۰/۱۱ رسما از طریق این ریاست در مربوطات ناحیه ۷ شهر کابل افتتاح گردیده اکنون طی درخواستی جداگانه به مقام محترم وزارت صحت عامه به نسبت مفقود شدن مهر قبلی کلینیک سراپا خویش خواهان اخذ مهر جدید گردیده اند که مقام محترم احکام لازم ارشاد فرموده اند.

اشخاص ، موسسات و دوایر دولتی که در مورد کلینیک مذکور ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به وزارت صحت عامه آمریت عرضه خدمات بخش صدور جواز خصوصی مراجعه نموده در غیر آن ادعای شان باطل میباشد.۱۰۷۱

***

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم مسعود قادری فرزند محمد فاروق ولدیت عبدالکبیر دارنده تذکره نمبر ( ۱۸۱۸۸-۱۲۰۳-۱۴۰۱ ) مسکونه اصلی ولایت کابل مالک امتیاز دواخانه بلال نسیمی واقع هشتم ولایت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم عبدالله فرزند محمد جان ولدیت غلام فاروق دارنده تذکره شماره ( ۴۴۸۴۹ ) مسکونه اصلی ولایت پروان گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۱۰۶۸

***

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم فضل احمد نوری فرزند نور احمد ولدیت لعل محمد دارنده تذکره نمبر (۱۷۴۳۶-۱۰۰۰-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت کندهار مالک امتیاز دواخانه قرآن مل واقع مرکز ولایت کندهار طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض وخواهان تغییر اسم دواخانه خویش از قرآن مل به اسم نوی نوری گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۳روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر سابقه وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند.۱۰۶۹

***

### اطلاعیه تقرری

قرار است محترم خوشحال فرزند محمد کبیر دارنده تذکره نمبر ( ۹۰۸۷۰) مسکونه فعلی ناحیه در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید اگر به دوایر و موسسات مسولیت داشته باشند الی مدت یک هفته در ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت.۱۰۶۶

***

### اطلاعیه مفقودی

سته های وسایط نقلیه شماره ۴۱۶۴۱ الی ۴۱۶۷۰ و ۴۱۴۸۱ الی ۴۱۵۱۰ رهنمای معاملات خیبر به اسم محمد عمر فرزند محمد انور اقع ناحیه ۱۷ شاروالی کابل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۷۸

***

### اعلان دعوت به داوطلبی

ریاست معارف شهر کابل به ترمیمات ، حفر چاه عمیق ، اعمار چاه سپتیک و ایزوگام لیسه های ( محمد علم فیض زاد ، محمود هوتکی ، محمود طرزی ، علاوالدین ، رسول امین ، آقا علی شمس ، نسوان سپین کلی ، ابوالقاسم فردوسی ، و ذبیح الله شهید) مربوط حوزه های تعلیمی (۲، ۳،۴، ۵ ، ۶ ، ۷ و ۹) مطابق نقشه و برآورد مدیریت انجینری ضرورت دارد ، آنعده شرکت های ساختمانی که خواهش قرار داد آنرا داشته باشند میتوانند درخواست های خویش را بعد از نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز به مدیریت تدارکات ریاست معارف شهر کابل واقع سرای غزنی کارته ۴ سپرده شرطنامه را ملاحظه نمایند.۱۰۷۹

***

### اطلاعیه انتقال مکان رهنمای معاملات

دفتر رهنمای معاملات شهکار آصفی دارنده جواز شماره ۵۲۹۷ به اسم محمد شعیب فرزند محمد آصف واقع چهار راهی انصاری سرک عمومی کلوله پشته ناحیه ۴ موقعیت دارد و میخواهد به ساحه بین سه راهی تایمنی سابقه و چهار راهی ترافیک ناحیه ۴ شاروالی کابل نقل مکان نماید. بناء مراتب به آگاهی رسانیده شد. ۱۰۷۰

***

### اطلاعیه تصمیم عقد قرار داد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع شما رسانیده می شود ، که کمیته مرکزی (رهبری ) کمپ های رهایشی برای مهاجرین در ولایت غزنی در نظر دارد قرار داد پروژه کمپ نمبر ۱ نزدیک دروازه شمالی غزنی ، ولسوالی خواجه عمری ، ولایت غزنی که دارای ۵۰۰ سرپناه (۳۳۳ باب سه اطاقه ، ۱۶۷ باب دو اتاقه ) برای مهاجرین را به شرکت محترم ساختمانی شکر الله کریمی دارای جواز نمبر ( ۳۶۷ -۰۱-D ) وزارت محترم صنعت و تجارت به قیمت مجموعی مبلغ ( ۲۱۸،۵۳۸،۴۶۲.۵) دو صدو هژده میلیون و پنجصد و سی و هشت هزار و چهار صدو شصت و دو اعشاریه پنج افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی با دلایل آن به کمیته مرکزی (رهبری) پروژه اعمار کمپ های رهایشی برای مهاجرین در ولایت غزنی (معینیت پلان و پالیسی وزارت احیاء و انکشاف دهات ) واقع دارالامن ، سرک نیله باغ وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکیمل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرار داد منعقد نخواهد شد۱۰۷۶

***

### اطللاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود اینکه :

وزارت آب و انرژی در نظر دارد، قرارداد پروژه حفظ و مراقبتی بند ذخیروی باغچری ولایت غزنی به قیمت مجموعی مبلغ (۹۸۰,۷۸۶,۳) افغانی به حروف (نه صدو هشتاد هزارو هفت صدو هشتادو شش اعشاریه سه) افغانی را به شرکت ساختمانی و سرکسازی نثار نصیر دارای جواز نمبر D-۲۵۲۳۴ آدرس : خواجه مشهد مقابل باغ نشر، مرکز کندز- کندز اعطاء نماید .

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اطلاعیه الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن رسماً به وزارت آب و انرژی ریاست تدارکات سرک دارالامان ـ سناتوریم وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

### اعلان تصمیم اعطای قرارداد

شماره دعوت به داوطلبی:

(MOBTA/1402/NCB/OPT/G.015).

بدین وسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات، به اطلاع عموم رسانیده میشود؛ وزارت امور سرحدات، اقوام و قبائیل در نظر دارد قرارداد تدارک ۲۶ قلم البسه باب مورد ضرورت وزارت را به شرکت محترم؛ شرکت تجارتی محمد شهبان رحیمی دارنده جواز نمبر (۸۴۶۱۰) و نمبر تشخصیه (۹۰۱۸۱۰۶۵۳۵) به قیمت مجموعی (۴،۶۴۶،۵۵۹) چهار میلیون و شش صدو چهل و شش هزارو پنج صدو پنجاه و نه افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات-وزارت امور سرحدات، اقوام و قبائیل، واقع ناحیه نهم-جوار ستره محکمه وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

### اعلان

د عدلیي وزارت د انسجام لوی ریاست د ټولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د ټولنې د لاښه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم ، ( دکندهار ښار د تیلو پمپونو متشبثینو اتحادیه ) ته د فعالیت جواز ورکړي.

د دیاد جواز اخیستلو لپاره مسعود احمد دحاجي میر احمد زوی د کندهار ولایت مرکز ولسوالی اصلی او د کندهار ولایت ۱۱ ناحیی فعلی اوسیدونکی د رییس ، او حاجی عبدالسمیع د حاجی عبدالغنی زوی د کندهار ولایت مرکز ولسوالی او د کندهار ولایت ۱۱ ناحیي فعلی اوسیدونکی د مرستیال په توگه عارض شوي ، که پر یادو اشخاصو د صنف اړوند کوم څوک نیوکه لري ، د اعلان له نیټي څخه تر لسو ورځو پوری د عدلیي وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهدو سره یو ځای په لیکلي بڼه وړاندې کړي ، له یادې نیټې وروسته به نومړو اشخاصو ته د فعالیت جواز صادریږی چې د جواز د صدور له نیټې څخه د جواز تر نهایي نیټې پورې په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لري.۱۰۸۱

***

P_01 شمیره فورم:

### د تدارکاتو د خبرتیا بیا ځل اعلان:

د ۱۴۰۲ مالي کال لپاره د اړتیا وړ « ۳۲ پایي ډسکتاپ مکمل الاسباب کمپیوټرونو پیرل»؛ د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداره ټولو په شرایطو وړ داوطلبانو ته بلنه ورکوي تر څو د ۱۴۰۲ مالي کال لپاره د اړتیا وړ « ۳۲ پایي ډسکتاپ مکمل الاسباب کمپیوټرونو « پروژه چې د ARA/1402/NCB/G-003 شمیري لرونکې ده د داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او شرطپاڼه د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداري د تدارکاتو آمریت ۱-۷ شمیري دفتر خونې څخه چې د کابل ښار په نهمه ناحیه ، شش درک عمومی سړک ، د اتصالاتو کمپنۍ سایټ ته مخامخ - موقعیت لري؛ د سهار له ۰۸:۳۰ بجو څخه تر ماسپښین ۰۳:۳۰ بجو پورې؛ د فلش، میموری په ذریعه تر لاسه کړي د تدارکاتو د کړنلارې او په شرطپاڼه کې د ذکر شویو شرایطو سره سم دې خپل آفرونه په سر تړلي توګه د خبرتیا د نېټې د خبرولو څخه تر (۲۱) تقویمي ورځو وروسته د یوې نۍ په ورځ د۱۴۰۲/۰۷/۰۹ نېټه د سهار په ۱۰:۰۰بجو د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداري ته راوړي ، ناوخته رسیدلي او انټرنیټي آفرونه د منلو وړ ندي.

د آفر تضمین د بانکي ګرنتی په ډول ۶۵،۵۰۰ پنځه شپیته زره او پنځه سوه افغانی ده، د آفر پرانسېټ غونډې جلسه د یوې نۍ په ورځ د ۱۴۰۲/۰۷/۰۹ نېټه د سهار په ۱۰:۰۰ بجو د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداري د جلسو په تالار خونه چې په څلورم منزل کې شتون لری دایریږي.

د اړیکي شمېرې: ۰۲۰۲۳۲۰۹۴۳ او ۰۷۷۱۹۲۰۸۴۶

د بریښنالیک پته : procurement.ara@gmail.com

یادونه: داوطلبان باید لږ تر لږه ۳۰ دقیقې مخکې د جلسې د شروع کیدو د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداري ته تشریف راوړي.

## زمینه سرمایه گذاری در افغانستان فراهم ...

.بـه گفته وی، در حال حاضر حجم سـرمایه گذاری افغان ها در امارات متحـده عربی به بیش از دوازده میلیارد دالر می رسـد.صدرخیل می‌گوید: «اکنون در افغانسـتان زمینه سـرمایه گذاری فراهم شده است. امیـدوارم که سـرمایه گـذاران افغـان بیایند و در افغانسـتان سرمایه گذاری کنند، در آبادی کشور سهم بگیرند و سـرمایه گذاری بیشـتری انجام دهند.»در همیـن حال، مسـئولان اتـاق صنایع و معـادن نیز می‌گویند که فرصت سـرمایه گذاری در افغانسـتان نسـبت به هر زمان دیگر بهتر است.به گفته مسئولان در این نهاد، فسـاد اداری پایان یافتـه، امنیت تامین اسـت و حکومـت از سـکتور خصوصـی حمایت می‌کند.شـیر باز کمیـن زاده، رئیس اتـاق صنایع و معادن می‌گوید: «ما کاملاً آماده هسـتیم تا در کشـور مان سـرمایه گـذاری کنیم و آن را گسـترش دهیم. اکنون باید بیشتر روی جذب سرمایه گذاری خارجی در اسـتخراج معادن تمرکز صورت گیرد.»از سـویی هم، مسـئولان وزارت صنعت و تجارت می‌گویند که جهت جذب سـرمایه گذاری در کشور، تمام سهولت ها را برای سـرمایه گذاران داخلی و خارجی فراهم کـرده و آمـاده همکاری بیشـتر در ایـن زمینه اند. عبدالسلام جواد آخندزاده، سخنگوی وزارت صنعت و تجارت می‌گوید: «ما تمام تدابیر را برای گسـترش سـرمایه گذاری و فعالیت‌های اقتصـادی گرفته ایم و ایـن روند از این بیشـتر گسـترش خواهد یافت. ما متعهد به حمایت از سـکتور خصوصی هستیم.»به باور آگاهان اقتصادی، در صورتی که امارت اسلامی به حمایت از سـکتور خصوصی و سـرمایه گذاری ادامه دهد، افغانسـتان به سـرعت از بحران اقتصادی نجـات خواهد یافـت و صاحب یـک اقتصاد منظم خواهد شد.

## بلخ کې جامو ګنډلو فابریکې کار ...

کاري پراختیـا او پرمختـګ مخه یې ډب کـړې ده. د بلخ ولایت د پوښـاک تولیدي کارخونو د ټولنې مسـوول شـیر احمـد سـلطاني وایي، دمګـړی په بلخ ولایـت کې ۶۰ د جامـو تولیدي کارخونـې فعاله دي، چې درې زره کسـان پکې په کار بوخت دي. « په مزارشـریف ښار کې د پوښاک تولیدي ټولنې تر چتر لاندې شـاوخوا۶۰ کارخونې شـتون لري، چې په ۳۰ کارخونو کې ښځې دي او ټولټال درې زره کسـان پکې کار کوي، د تولیدي کارخونو لومړی ستونزه د برېښـنا لوړه بیه او په وطنـي تولید باندې د خلکو بې باوري ده. دغه راز د کار موسم،د جامو د ځای نشت او د صادراتو په برخه کې مشـکلات هغه څه دي چې پـه کور دننه یې د تولیدي کارخونو کار پیکه کړی.»

## ننګرهار کې ۱۰ پراختیایي پروژې ګټې اخیستنې ...

او ۹۵۰ زره افغانیو په ارزښـت د لسو پراختیایي پروژو چارې د ملګرو ملتونو په مالي مرسـته او د دغه ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیـا ریاسـت تر چتـر او څارنې لاندې بشـپړې او ګټې اخیسـتنې ته وسپارل شـوې. د یادونې وړ ده، په دغو پروژو کې د نویو سـړکونو جوړول، د کانالونو جـوړول او پاکول او نورې عمراني پروژې شاملې دي.

## اسلامي امارت د شریکو ...

د اسـلامي نړۍ له هېوادونو سره د افغانستان د اړیکو، هېواد تـه د نړۍ د بېلابیلو هېوادونو د عالمانو د هیئت د وروسـتي سـفر پر نتایجو او نـورو موضوعاتو خبرې وشـوې.بلخي زیاتـه کړې، چې په یـاده کتنه کې مولوي امیـر خان متقي د اسـلامي همکارۍ سـازمان له غړو هېوادونو سره اړیکو ته په اشـارې وویل، چې د افغانسـتان اسـلامي امارت له اسلامي هېوادونو سـره په فرهنګي، سیاسـي، اقتصادي او تعلیمـي ډګرونو کې د اړیکـو پیاوړتیا او د ګډو ګټو د تحقق او ګډو ننګونـو ته د حل لارې موندلو په پـار رغنده تعامل ته ځانګړې ارزښـت ورکوي.ورته مهال د اسلامي همکارۍ سـازمان مرسـتیال او د افغانسـتان لپاره ځانګړي استازي طارق علي بخیت، د اسـلامي نړۍ د علماوو هیئت د ښـه کوربه توب له کبله د افغانسـتان اسـلامي امارت څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه چې د اسـلامي همکاریو سـازمان له اسلامي امارت سـره پر مثبت تعامل باور لري او په بېلابېلو برخو کې به د افغانسـتان ملاتړ ته دوام ورکړي.

## تاجران و سرمایه‌گذاران ارکان اصلی ...

که امارت اسـلامی زمینهٔ سـرمایه‌گذاری در بخش‌های مختلف از جمله صادرات، فابریکه‌های تولیدی و استخراج معادن را برای سـرمایه‌گذاران داخلـی و خارجی فراهم نموده و از تاجران ملـی و خارجی و آن عده افغان‌هایی که در خارج از کشـور به تجارت مشغول‌اند خواست تا با اسـتفاده از این فرصت به توسعه و آبادی کشور سهیم شوند.

## برای خودکفایی افغانستان از تولیدات داخلی ...

سویی هم، مسـوولان اتاق صنایع و معادن از حکومت می‌خواهنـد کـه از تولیدات داخلی اسـتفاده کنند تا از واردات ادویه خارجی جلوگیری شود.شیرباز کمین زاده، رییس اتـاق صنایع و معادن، در این مورد گفت: «اگر ما ثابـت کنیم که در این‌جا خودکفا هسـتیم، از ما حمایت کنید و حمایت کردید. نسـبت به هـر وقت دیگر حالا زمینه مساعد شده است، علت اش این است که هیچ‌کس نمی‌تواند به‌گونه قاچـاق دوا بیاورد.»به گفته کمین‌زاده، براسـاس فرمان رهبر امارت اسـلامی باید از تولیدات داخلی استفاده شـود و این به زودی تطبیق می‌شود.در همین حال، مسوولان یکی از شـرکت‌های تولید کننده ادویه در این نشسـت گفتند که در حال حاضر ۴۳ نوع ادویه تولید می‌کنند.گفتنی اسـت که در حال حاضر در افغانسـتان در بخش تولید دوا ۳۰۰ میلیون دالر امریکای سـرمایه‌گذاری و برای ۱۵ هزار تن نیز زمینه کار فراهم شده است و افغانستان در تولید ۱۵ قلم دوا به خودکفایی رسیده است.

## ټولو هېوادوالو ته له توپیر پرته مرستې...

کوو.»نومـوړي وویل، چـې ولایتي ټولنو د رامنځتـه ګام مو ځکه واخیسـت ترڅو د ربښـتینو اړمنو وګړو غړ واورو او د مرستې لاس وروغځوو. مولوي مطیع الحق خالص د ولایتي ټولنو نویو اعضاو ته په خطاب کې وویل: « ستاسو همکارۍ ته پوره اړتیا ده، چې واقعي اړمن وګړي را په ګوته کړئ، د ولس غږ تر مونږ را رسوئ او خپله ایماني او اخلاقـي وجیبه ادا کړئ.»هغه همدارنګه زیاته کړه، چې موږ د ولس ضرورتونه او ستونزې درک کوو او کوښښ کوو حل لارې ورته ولټوو. مولوي خالص وویل، چې موږ د مرستو په وېش کې هېڅکله تبعیض نه کوو او د هېواد هر وګړي ته پرته له توپیر خپلې مرستې رسوو. د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم په بېلابېلو ولایتونو کې د افغاني سـرې میاشتې له لوري د افغاني سرې میاشتې ولایتي ټولنې غړو پرانیست غونډې ترسره شوې وې.

## دشمنی ۵۲ ساله دو خانواده در ولسوالی ...

و جای خوشـبختی اسـت که امروز دوبـاره در چنین مجلسـی دور هم جمع شـده ایم که دشمنی به دوستی تبدیل می شـود.والی کابل همچنان افزود که بخشش و صلح برای مسـلمانان خوب است و این نیز جزء احکام شرعی است. با حاکمیت مجدد امارت اسلامی در کنار دستاوردهای فراوان در عرصه‌های دیگر، گام‌های مؤثری در رفع دشـمنی‌ها و اختلافات بیـن قبایل و خانواده‌ها برداشته و تاکنون صدها پرونده قتل را حل کرده است.

## سور صلیب له افغانانو سره په بېلابېلو برخو کې ...

له افغانانو سـره د مرسـتو د څرنګوالي په اړه خپل معلومات د ریاسـت الوزرا د دفتر لوی رییس سـره شـریک کړي.فیلیون د روغتیا په برخـه کې د تمویل له اړخه ځینـو مالي او اقتصادي ستونزو ته په اشارې ویلي، له افغانانو سره په نورو بېلابېلو برخو کې خپلو مرستو او همکاریو ته دوام ورکوي.نوموړي زیاته کړې، موږ هڅه کوو د روان میلادي کال تر پایه هغه پانګوال بیرته قانع او مرستې یې راجلب کړو، چې په وروستیو کې یې خپلې مرستې او همکارۍ کمې کړې دي.د ریاسـت الوزرا د دفتر لوی رییس د سـره صلیب نړیوالې کمیټې استازولۍ مشر ته د ښه راغلاست ترڅنګ ویلي، سـور صلیب په افغانستان کې د بې قید او شرطه مرسـتو او غوره خدمتونو وړاندې کولو ښه مخینه لري او په تېرو څلورو لسـیزو کې یې د جګړو په مهال ښـه رول ادا کړی او پام وړ خدمات یې کړي.ډاکټر ملا عبدالوسع زیاته کړې؛ په اوسنیو شـرایطو کې افغانان هیله لري، چې د سـره صلیب کمیټه به د روغتیـا په ګډون ټولو برخو کې خپلو مرسـتندویه فعالیتونو ته د پخوا په شان دوام ورکړي او د لا پراخولو لپاره دې هڅې وکړي او خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

# پکتیکا کې د کرومایټ ډبرو کان د استخراج چارې پیل شوې

د پکتیـکا ولایـت د کانونو او پټرولیم ریاسـت له لـوري په ګیان ولسـوالۍ کې د ګرومایټ ډبرو کان د استخراج چارې پیل شوې، چې د پنځو کالو په موده کې به ۹۰ زره ټنه کرومایټ استخراجوي. په همدې موخه جوړو شـویو مراسمو کې د پکتیکا والي فیض الله جمـال حقاني ویلـي، چې پکتیـکا د کانونو په برخـه کې زیاتې زېرمې لري او د سرپرسـت حکومت مسـوولین دې ته ژمن دي، چـې د هېواد د بهبـود او آبادۍ لپاره ترې ګټـه واخلي او چارې به یـې وخت پر وخت پیل کېږي. ورته مهال د دغه ولایت د کانونو او پټرولیـم رییس نظر ګل صیاد وویـل، چې د اړوند وزارت د هوکړه لیک پر اسـاس د کرومایـټ دغه کان د پېټرا راک یـا هم د کانونو د اسـتخراج پروسـس شـرکت ته د ۶۷ میلیونه افغانیو په ارزښت په قرار داد ورکړل شـوی، چې لـه یادو ۶۷ میلیونـو افغانیو څخه به ۲۸ میلیونه افغانیو په ارزښـت په یاده سـیمه کـې پروژې پلې کېږي. صیاد وویل، یاد شـرکت به د ۵ کالونو په لړ کې ۹۰ زره ټنه کرومایـټ اسـتخراجوي، چې په یو ټن بـه ۱۵ زره ۱۰۰ افغانۍ د دولت عوایدو ته ورکوي.

### د بې پولو ډاکټرانو ټولنه:

# افغان میندو ته خدمات وړاندې کول لومړیتوب لري

د بـې پولو ډاکټرانو ټولنه وایي، چې په افغانسـتان کـې میندو او نویو زېږدلو ماشومانو ته روغتیایي خدمات وړاندې کول د دوی لپاره تر ټولو ډېر مهـم دي.یادې ټولنې پرخپله ټوېټرپاڼه لیکلي چې د میندو او نویو زېږېدلو ماشـومانو روغتیا ته پام او د دوی د مرګونو ناروغیو کمول یې د ماموریت مهمه برخه ده.سـرچینې زیاته کـړې چې په ۲۰۲۲ کال کې یې روغتیایي ټیمونو نژدې ۴۳ زره نویو زېږونونو سره مرسته کړې، چې نیمایي یې د جراحي عملیاتو په واسـطه شـوي دي.یاده ټولنه دا څرګندونې په داسـې حال کې کوي چې د کلیـد د موندلو له مخې، د هېـواد په ۳۰۰ ولسـوالیو کې خلک معیـاري روغتیایي خدماتو ته لاسرسی نه لري.

## بېځایه الزامونه د پاکستان...

اجیرې ادارې د سـقوط زمانې په شان یو درجن سیالې اومخالفې ډلې میدان ته راوتلې اود سورېې اولیبیا په څېر حالات له کنټروله وتلي وي، یقیناً چې د سیمه ییزو جاسوسي ادارو د فعالیتونو له امله به نه یوازې افغانستان د بشپړې تباهۍ تربریده رسېدلی وي ، بلکې هغه مهال به تاسې بیا د پاکستان په شمول د سیمې هېوادونو ننداره کړې وي چې واقعاً د (قلب آسیا) د فساد له امله ټوله آسیا کوم برخلیک سره مخ شوه . په هرصورت اوس حقیقت دادی چې د پاکستاني چارواکو دغه ډول منفي وېناوې به هېڅکله د دوی هغه ستونزې اوارې نه کړي شي ، کومې چې دمګړۍ هغوی ورسره مخ دي، ځکه د افغانستان اوپاکستان ولسونه مسلمانان اویوبل سره زښته ډېرې فکري،کلتوري اوجغرافیوي اړیکې لري.بناءً د سیاستوالو غلطې اوله عوامي تمایلاتو او غوښـتنو سره مخالفې تګلارې ،پرته له شـکه د هغوی غوسه اوکرکه راپاروي او بیا یې مخنیوی د حکومتي ځواکونو دوس خبره نه وي، دلته بهرني فرمایشات اود پردیو یرغلګرو په لمسون ،هڅونه اومرسته د خپلو ولسونو پرخلاف جنګېدل اوله زوره کاراخیستل یقیناً همدغسې پایلې لري، نوکه دا مطلب لږ نور هم سپین ووایو ښکارده چې پاکستان ته وریپښې اندېښنې خپله د چارواکو دغلطو تګلارو عکس العمل دی خصوصاً پرافغانستان صلیبي یرغل او شل کلن اشغال په زمانه کې چې دوی پرکومه لاره روان وو اوبیا یې له هماغو یرغلګرو سره د مرستې اوهغوی د خوشالولو لپاره چې خپلو خلکو سره کوم چلند وکړ،واقعاً چې هلته یې پراخ مخالفت اوحساسیت رامنځته کړی اوڅرنګه چې اوس د یادو یرغلګرو تغر ټول شوی او هېڅ عسکري حضورنه لري،همدا وجه ده چې هلته ناراضو پرګنو ته د خپل انتقام اخیستو مناسبه موقع په لاس ورغلې ،پرعمل یې لاس پورې کړی او قابو کول یې هېڅکله نه د اسلامي امارت په توان کې دي او نه ورته کوم لاسرسـی لري اونه باید په کې دخیل اوګرم وبلل شي، دا خپله همدوی پورې اړه لري اوهېڅ مناسب نه ده چې په نړۍ کې زموږ د بدنامولو هڅې کوي.

## د هېواد د آبادۍ لپاره باید خپله ...

په ډلو او ټپلو و نه وېشي.دغه راز په دې ولایت کې د مذهبي توپیرونو پر ځای د شـیعه او سني مذاهبوتر منځ د مینې او محبت فضا رامنځته شـوې او د دوارو مذاهبو پیروان په یوه جومومات کې لمونځ او په یوه کور کې دیووالي په فضا کې ژوند کوي.د دې ولایت د پوهنې ریاست مرسـتیال او قومي مشـر ناظر جعفري ویلي؛ د امریکا په ګډون دوو سترو امپراتوریو غوښتل چې د افغانستان خاوره او دا غیور ولس اشغال کړي، خو دلته ذلیل او له تاریخي ماتې سـره مخ شـول.د نوموړي په وینا؛ بامیان کې هیڅ راز مذهبي، سیاسـي او امنیتي سـتونزه نشته او ټول قومونه په یووالي او بشپړ امنیت کې ژوند کوي.شیخ رمضان علي کریمي ویلـي؛ هېواد کې د امریکایي ځواکونـو د ظلم دوره ختمه او موږ له امتحانونو بریالي راووتلو.اوس د نظام بقا او ملاتړ زموږ مشترک مسـوولیت دی.ښـاغلي کریمي زیاته کړې، چې هزاره او اهل تشیع په شـل کلن جهادي پېر کـې د نورو قومونو په څېر ونډه اخیسـتې ده.د پوهنتون د استادانو په اسـتازولي باز محمد فروغ ویلي، چې د خلیفه صاحب راتګ د قومونو د اتحاد او لا ډېر نږدې معرفت بنسټونه غښتلي کوي.د پوهنتون او مدسـې د قشر وحدت هم د ملي وحدت د پیاوړتیا سـبب هم ګرځي.خلیفه سراج الدین حقاني ویلي، "له پېړیو راهیسې افغانانو د اشـغالګرو پر وړاندې مقاومت کړی او بریالي شوي، خو له بریالیتوب سره سره یې د نظام د ټینګښت په برخه کې بشپړه کامیابي نه ده تر لاسه کړې.موږ او تاسې په هغه پړاو کې یو چې د نظام د استحکام ستر او ستونزمن مسوولیت را تر غاړې دی.ښاغلي حقاني زیاته کړې، چې د افغانانو لپاره د بامیان د ولسـونو اتحاد یوه غوره بېلګه او سمبول دی.د کورنیو چارو سرپرسـت وزیر ویلي؛ زموږ پر خلکو د بې اتفاقي لپاره ډېر کار وشـو، چې افغانستان په قومونو، مذهبونو، سمتونو، رنګ او نورو نقطو ووېشـي، مګر دا خلک پـه اعتقادي وحدت ټینګ پاتې شول.د ښاغلي وزیر په وینا؛ په سیمه کې افغانستان یو له هغو هېوادونو دی، چې مذهبي او قومي تفاوت د جنګ جګړې او اختلاف سـبب نه دي ګرځېدلي، بلکې د متنوع او متوازنې ټولنې د جوړېدو باعث شوي دي.امـارت کې تعصب ګناه بلل کېږي او بایـد د هېواد په ابادي کې پردیـو ته انتظار ونه کړو، خپله یـې ورغوو.دغه‌راز څوک چې د هېواد بیارغونې لپاره لاس راکوي، هرکلی یې کوو.د هزاره قوم وتلو سیاسـي مشرانو ته بلنه ورکوو چې دلته د دې نورو درنو سپین ږیرو په رنګ ژوند وکړي، زموږ هېڅا ته انتقامي فکر نه شته او د نړۍ لپاره مو هم د تعامل دروازې خلاصه ده.د بامیان د خلکو ستونزې مې واورېدې ان شاءالله پـه لنډ وخت کې به یې د حل په موخه هڅې وکړو او تر رهبرۍ پورې به یې ورسوو."د کورنیو چارو سرپرست وزیر تېر ته په کتو ویلي؛ دلته ځینې ستونزې له یرغلګرو په میراث پاتې دي، چې موږ به یې د خدای ج په فضل او د ولس په ملاتړ حل کوو.

## سرپرست وزارت صنعت و تجارت...

نظامانی سرپرسـت سـفارت پاکسـتان در کابل دیدار کرده مشـکلات و نگرانی‌های تجار کشور در بندر کراچی پاکستان را با وی در میان گذاشت. او در رابطه به اموال ترانزیتی تجار افغان که درفهرسـت حسـاس جمهوری پاکستان قرار گرفته اسـت و ترخیص اموال ترانزیتی که در بندر کراچی با تاخیر مواجع شده است صحبت نموده، از سرپرست سفارت پاکستان خواست که این مشـکلات بررسی و حل شود. عبیدالرحمن نظامانـی اطمینان داد که نگرانی‌هـای مقام های افغان و تجار اینکشور را به زود فرصت با مقام های کشورش شریک میکند تا برای آن راه حل پیدا شـود. قرار اسـت سرپرست وزارت صنعت و تجارت برای پیگیری بیشتر این موضوع، با مسوولان وزارت تجارت پاکستان نیز صحبت نماید.

## له نشې ۵۳۰ زغېدلي کسان ...

توکـي او اداري فسـاد لـه تېـرې ادارې څخه په میـراث پاتې وو،د افغانسـتان د اسلامي امارت قوي هوډ د دې لامل شو چې دواړه ناروه پدیدې صفر ته نږدې شـي، د دې ترڅنګ د معتادینو د تداوۍ موضوع هم ډېره اړینه وه چې له نیکه‌مرغه هڅې رواني دي ترڅو د اعتیاد څخه یو سـالم او پاک افغانستان ولرو.مولوي حقبین په نړیواله ټولنه غږ وکړ چې د افغانستان د خلکو ستونزې درک او دوی سره مثبت تعامل وکړي او هم دې د زېربناوو او مهمو پروژو په پلي کولو کې فعاله ونډه واخلي. بل لورتـه د کورنیو چارو وزارت د مخدره توکو پـه وړاندې د مبارزې معینیت ملکي مرسـتیال مولوي عبدالرحمان قاسمي خپلو خبرو کې د اعتیـاد څخه د رغېدلو اشـخاصو لپاره د فنـي او حرفوي زده‌کړو د برابرولو له املـه د کار او ټولنیزو چـارو وزات څخه په مننې ترڅنګ وویل، د افغانستان اسلامي امارت تر حاکمېدو وروسته د مخدره توکو په وړاندې جدي مبارزه شوې، زیات شمېر قاچاقبران نیول شوي. قاسـمي زیاته کړه، نږدې ۱۰۰زره تنه معتادین تر درملنې لاندې نیول شـوي او دا لړۍ په مرکز او ولایتونو کې دوام لـري. همدارنګه د کار او ټولنیـزو چـارو وزارت د فني او حرفوي زده‌کـړو د مراکزو د تنظیم رئیس مولوي عبدالواحد فایزوایـي د۵۳۰ تنو د اعتیاد څخه رغېدلي اشخاصو ته په یوې څلور میاشتنۍ دوره کې په پنځو حرفو کې زده‌کړې ورکړل شوې، چې له دې ډلې ۲۰۰ تنو ته تر سروې او پلټنې وروسته د کار وسایل په پام کې نیول شوي او دوی و توانېدل چې د ماهرو کارګرو په حیث د کار لپاره بازار ته وړاندې شـي. په همـدې ترتیب د کار او ټولنیزو چارو وزارت د مالي او اداري چارو د مرستیال؛ سلاکار مولوي محمـد نعیم‌ګل صدیقي خپله وینا کې فارغو اشـخاصو ته د مبارکۍ ویلو ترڅنګ له هغوی وغوښـتل چې ناهیلي کېږي دې نه بلکې د یوه سالم او مسؤل انسان په توګه دې خپله ټولنه او کورنۍ سره یوځای شي او له دې وروسته دې خپل مسؤلیت په ښه توګه ترسره او د حلال رزق د پیداکولو لپاره دې لاس په کار شي. همداډول د سرف افغانستان خیریه مؤسسې اسـتازي خپلو خبرو کې د خپلې مؤسسې اړوند د معلوماتو د شـریکولو ترڅنګ څرګنده چې د امید فني او حرفوي زده‌کړو مرکز څخـه د ۲۰۰تنـو فارغانو لپاره د څه باندې شـپږ میلیونـه افغانیو په ارزښـت کاري وسایل په پام کې نیول شـوي ترڅو دوی وکولای شي د کار په بازار کې په مسلکي توګه کاروکړي،ترڅوخپلوکورنیوته حلاله نفقه تر لاسه کړي.

دیادونې وړ ده چې د۲۰۰ تنو فارغو کسـانو تـه د هغوی د کورنیو په شـتون کې د سرف افغانستان خیریه بنسټ په همکارۍ، د خیاطۍ، د تعمیراتو د برق، د بوټ دوزۍ، بیک دوزۍ او د برقي وسـایلو د ترمیم اړوند وسایل په اختیار کې ورکړل شول.

**سمیع الله مومند**

# Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Saturday 09 Sebtember 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 260


حقاني :

## د هېواد د آبادۍ لپاره باید خپله هڅه وکړو



د کورنیو چـارو سرپرسـت وزیر خلیفه سـراج الدین حقاني پرون د خپلو سـفرونو په لړ کې بامیانو ته لاړ او هلته یـې له ځایي چارواکو، قومي مشرانو او عامو خلکو سره په جوړه شـوې غونډه کې وینا وکړه.د غونـدې په پیل کـې د بامیان والي مولوي عبدالله سرحدي د خلیفه په مشري راغلي پلاوي ته د هرکلي تر څنګ دا راتګ د یاد ولایت د خلکو لپاره یو ستر ویاړ وبلل شو.ښاغلي سرحدي ویلي، چې له ډېرو قربانیو وروسـته متحد شـوي یو، نور مو دښمن باید ... ۷مخ

## له جاپان سره سوداګریزې اړیکې پراختیا مومي

تاکل شـوې نږدې راتلونکي کې، د سـوداګرۍ او پانګونې خونې یو پلاوی له یو شـمېر سوداګرو سره یوځای جاپان ته سـفر وکړي. بل لور تـه د سـوداګرۍ او پانګونې خونـې لومـړی مرسـتیال وایي، چې په کابل کې یـې د جاپان له سفیر سـره په لیدنه کې، د دواړو هېوادونـو تـر منـځ د اقتصادي اړیکـو د پراختیا او راکړې ورکړې د زیاتوالـي پـه اړه خبـرې کړې دي. ورته مهال یو شـمېر سوداګر وایي، چـې باید له جاپان سـره سوداګریزې سـتونزې حل شي، څو د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ کچه لوړه شـي. د سـوداګرۍ او پانګونـې خونې د ورکړل شـویو معلوماتو له مخې له جاپان سـره هـرکال څـه باندې سـل میلیونه ډالـره راکـړه ورکړه کېـږي، چې لـه جاپانه د وارداتـو ډېری برخه الکترونیکي وسایل دي.

### سرپرست وزارت صنعت و تجارت

## خواستار رسیدگی بر مشکلات تاجران افغان در بندر کراچی شد



سرپرسـت وزارت صنعت و تجارت در دیدار با سرپرسـت سـفارت پاکسـتان در کابل ، خواستار رسـیدگی مقام های پاکسـتانی به معضل ترانزیتی تجـار افغـان در بندر کراچی شـد.دفتر مطبوعاتـی وزارت صنعـت و تجـارت با نشـر این خبـر گفته اسـت: الحاج نورالدیـن عزیزی سرپرسـت وزارت صنعـت و تجارت با عبیدالرحمن ... ص۷

### رئیس شورای تاجران افغان مقیم امارات:

## زمینه سرمایه گذاری در افغانستان فراهم شده است



رئیس شـورای تاجـران افغان مقیـم امـارات متحـده عربی می‌گوید کـه زمینه فعالیت‌های اقتصادی و سـرمایه گذاری در افغانسـتان فراهم شده است و تاجران به این کشـور برگردند. عبیدالله صدرخیل می‌افزاید که در مقایسه با چهار دهه گذشته، اکنون زمینه بهتر سرمایه گذاری در افغانستان وجود دارد. ص۷

## د ازبیکستان ۸۰ واګونه بې کیفیته تېل مسترد شول

پـه تېـرو څلـورو میاشـتو کې ازبکسـتان افغانسـتان تـه ۸۰ واګونـه بـې کیفیته تیـل او ګاز صادر کـړي دي.د حیرتانو بندر د نفت او ګازو ریاست مسوولین وایـي چې یاد بـې کیفیته تیل او ګاز د دوی له لوري نیول شـوي او تر پېژندل کېدو وروسـته بېرته دغه هېواد ته ور ګرځول شـوي دي.دا پـه داسـې حـال کې ده چې د سـتنډرډ ملي اداره وایي، د هېـواد په بندرونـو یې څار تر پخـوا څو چنده زیات شـوی او هڅـه کوي چې هیڅ بـې کیفیته تیـل او ګاز هېـواد تـه صادر نه شـي.د یادونې وړ ده چې تر دې وړاندې د ایران له لوري لسګونه ټانکره بې کیفیته تیل افغانسـتان تـه را انتقال شـوي، چـې بېرته مسترد شوي دي.

## بلخ کې جامو ګنډلو فابریکې کار پیل کړ



د بلخ په مرکز مزارشـریف ښـار کې د جامـو ګنډلـو او جامپرونو جوړولو یوې فابریکې کار پیل کړ. دا کارخونه د یو سوداګر په شخصي لګښـت جوړه شـوې چـې د ۷۰ نجونو په ګډون په کې ۱۵۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شوې. پـه دې کارخونـه کې یو شـمېر وزګارې نجونـې کار کـوي. پـه همدې حـال کې د یادې کارخونې مسـوول نذیر احمد رسولي وایي، له دې کار څخه یې موخه په هېواد کې د بې دنـدو مېرمنو ملاتړ دی. نومـوړی زیاتوي:« دلتـه ۱۵۰ تنه کاري پرسـونل لرم، چـې ۷۰ تنه یـې نجونې او ۸۰ تنـه یې هلکان دي، موږ په دوو برخو کې کار کوو، چې ډېری تولید مو جامې دي.»په سوداګریزو ګمرکونو کې د اجناسو په وارداتو او صادراتـو باندې لوړه تعرفه، د برېښنا لوړه بیه او د کورنیو تولیداتو پـه کیفیت باندې د خلکو بې اعتمادي هغه څـه دي، چې د تولیدي کارخونو د ... ۷مخ

## ننګرهار کې ۱۰ پراختیایي پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ننګرهار په مومندرې ولسـوالی کې د ۱۰ پراختیایـي پروژو چارو د بشپړېدو خبر ورکړی دی.د یاد وزارت مطبوعاتي دفتر باختر آژانس ته د یـوې خبرپاڼې په لېږلو سـره ویلي، چې د ننګرهار په مومندرې ولسوالی کې د یو میلیون ... ۷مخ

## له نشې ۵۳۰ رغېدلي کسان له روزنیز مرکزه فارغ شول

د کار او ټولنیزو چارو وزارت اړوند د امیـد فني او حرفـوي زده‌کړو له مرکزه د اعتیاد څخه رغېدلي ۵۳۰ تنه فارغ، کاري وسایل یې تر لاسه او یو ځل بیا له خپلو کورنیو سـره یوځـای شـول.غونډه ورمه ورځ د امیـد فنـي او حرفـوي زده کړو مرکز کې جـوړه شـوې وه،دکاراو ټولنیـزو چـاروو وزارت مالـي او اداري مرسـتیال مولوي دین‌محمد حقبین، د کورنیو چـارو وزارت د مخدره توکو پـه وړاندې د مبارزې معینیـت ملکي مرسـتیال مولوي عبدالرحمان قاسمي،عامې روغتیا وزارت مسولینو، د سرف افغانستان خیریه مؤسسې اسـتازو، د فني او حرفوي زده‌کـړو د مراکزو د تنظیم رئیـس مولوي عبدالواحـد فایز، د دولتي ادارو غړو یو شمېر رئیسانو،د فارغینو د کورنۍغړو او درسـنیو استازو په کې ګډون کړی و.د کار او ټولنیزو چارو وزارت مالي او اداري مرستیال مولوي دین‌محمد حقبین وویل : مخدره ... ۷مخ



د افغانستان اسلامي امارت

خبرتیا

د چاپېریال ساتنې ملي اداره درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې د ځنګلونو او عامه ځایونو د شنو بوټو او ونو وهل د چاپېریال قانون مطابق منع دي.

که هر چا ځنګلونه یا د عامه ځایونو ونې ووهلې د ونو د نوعیت او ارزښت مطابق به نغدي تاوان ورکوي؛ عدلي او قضایي ارګانونو ته به سپارل کیږي چې هیڅوک بیا د شکایت حق نه لري.

د چاپېریال ساتنې ملي اداره

www.nepa.gov.af @Nepairoa 0202926414 info@nepa.gov.af

# رویدادهای خارجی

### ستولټنبرګ:

## له اوکراین سره دې مرستې زیاتې شي

له اوکراین سره د لویدیځ د مرستو پر دوام د ناټو سازمان عمومي سرمنشي ینس ستولټنبرګ ویلي چې له اوکراین سره دې مرستې زیاتې شي.هغه‌ویلي، له‌اوکراین سره مرستې انتخاب نه؛ بلکې ضرورت دی، تر څو وشي کولای خپل هېواد له یرغل خلاص کړي.دا په داسـې حال کـې ده چې امریکا تېره ورځ له اوکراین سره د یو میلیارد ډالرو تازه مرستې اعلان هم کړی.که څه هم د اوکراین جمهور رییس ویلي وو، چې سپټمبر میاشت به د دوی د بریا میاشت وي، خو وبه لیدل شي، چې له‌روسیې څخه‌خپلې‌یرغمل شوې‌سیمې نیسي او که نه.

## د جنوبي قطب هوا په چټکۍ تودېږي

تازه څېړنې ښیي چې د جنوبي قطب هوا تر هغه چې ګومان کېده، په چټکه تودېږي.
ساینسـپوهانو په دې څېړنـه کې په جنوبي قطب کې د کنګلونو د قشرونو یا پوښـونو د ۷۸ مهمو سـرچینو د تجزیې او تحلیل په وسیله د دې سیمې د تودوښې متوسطه درجه تر زرو کلونو پخوا پورې اټکل کړې او دې نتیجې ته رسېدلي چې په وروستیو کلونو کې د جنوبي قطب د تودیدو اندازه او سرعت تر دې ورتېـره خبره ده چې هغه دې د سیمې د هوا د تودوښې طبیعي تغییر وګڼل شي.

## استفاده ازآیفون در ادارات دولتی چین ممنوع شد

دولـت چین اسـتفاده از مبایل های آیفون را در ادارات دولتی این کشـور ممنـوع اعلام کـرده اسـت.بر بنیاد گزارش‌ها، چین به مقامات آژانس‌های دولتی مرکزی دستور داده است که از آیفون و سایر دسـتگاه‌ها با علامت خارجی برای کار اسـتفاده نکرده یا آن‌هـا را وارد دفترهـای خود نکنند. روزنامه وال‌استریت ژورنال به نقل از منابع آگاه گزارش داده که این دستور در هفته‌های اخیر به کارمندان دولتی چین ابلاغ شـده است، ولی در مورد گسترش این دستور اطلاعی در دست نیسـت.طبق گزارش؛ این دستور در حالی صادر شده است که شرکت اپل قصد دارد در هفته‌های آینده از نسخه جدید گوشی آیفون با عنوان آیفون ۱۵ (AAPL.O) رونمایی کند. استفاده از تیک‌تاک در شماری از کشورهای دیگر نیز ممنوع اعلام شده بود.



## تأکید بر پایان اشغالگری امریکا در سوریه

وزیر امـور خارجه سـوریه بر پایان اشغالگری امریکا در کشورش تاکید کرده اسـت.فیصل مقداد، وزیر امور خارجه سوریه گفته است که به کمک و یاری مردم کشورش؛ به اشغالگری امریکا در شـرق سـوریه نقطه پایان گذاشـته خواهد شد.همزمان با این؛ هاکان فیدان وزیر امور خارجه ترکیه ضمن درخواسـت از امریـکا برای متوقف کردن حمایـت از گروه‌های مسـلح در شرق سـوریه گفته است که اگر این حمایت‌ها متوقف نشود، درگیری‌ها در ولایت دیرالزور سوریه بـه منزله آغاز یـک دوره جدید تنش خواهد بود.این در حالیست که پس از بازداشـت احمد خبیـل، رئیس شورای نظامی دیرالزور سوریه و چند تن از اعضـای شـورای نظامی این منطقه که شماری از عرب های ساکن به بازداشـت آنان معترض هسـتند؛ درگیری ها میان عرب های این منطقه و گروه های تحت حمایت امریکا آغاز شده و که تاکنون ده ها کشته و زخمی نیز برجاگذاشته است.

## دومین سالگرد فرار مبارزان فلسطینی از زندان رژیم‌صهیونیستی

رهبران فلسطینی در سخنانی از دومین سالگردفرار مبارزان‌فلسطینی؛ اززندان رژیم اسرائیل یاد وبود و گرامیداشت به عمل آوردند.رهبران فلسـطینی در سخنانی به‌مناسـبت دومین سالگرد فرار مبارزان فلسـطینی از زندان رژیم اشغالگر اسـرائیل؛ بر تداوم مقاومت تأکید کرده اند.منشی عمومی جنبش جهاد اسلامی فلسطین؛ طی سخنانی اعلام کرده اسـت که آثار شجاعت و دلیری مبارزان فلسـطینی برای فرار از زندان صهیونیستی؛ امروز در مقاومت کرانه باختری مشـاهده می شـود. همزمان با این یک عضو دیگر جنبش جهاد اسلامی در غزه در سخنانی به مناسبت دومین سالگرد فرار مبارزان فلسـطینی از زندان رژیم اسرائیل؛ با اشاره به هشـدار رژیم صهیونیستی مبنـی بر تـرور رهبران فلسـطینی؛ تأکید کرده است که این کار به معنی یک جنگ بزرگ و گسـترده خواهد بود.

## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!